# دَ رنګونو پَیوندونه



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول حقوق د لیکوال سره خوندي دي، په انټرنیټ د خورولو حق پښتو ډاټ نیټ سره دے

بسم الله الرحمن الرحيم



| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | د رنګونو پېوندونه |
| برخې | څلور (دربيزې، رباعيانې، لنډې نظمونه او غزلونه) |
| تخليق کار (ليکونکے) | شيرين يار يوسفزے |
| کمپوز او ډيزائن | خيام يوسفزے |
| ټائټل | ګوهر ننګيال |
| ټائټل عکس | دلاور عمر (کُرد آرټسټ) |
| پروف ريډنګ | شيرين يار يوسفزے |
| چاپ | اکتوبر ۲۰۱۴ |
| بيه | يو نيم سل روپۍ (۱۵۰) |

درکونه

يونيورسټي بک ايجنسي

عامر پرنټ اينډ پبلشرز

www.pukhto.net

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ
http://www.pukhto.net

Estb. 2010

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ټروڼ

دَ هغه رڼا پهٔ نوم چې دَ تګۍ ، استحصال ، محرومۍ ، بدمرغۍ او بدرنګۍ تورې شپې ته کڼه ور پهٔ سر کړي

دَ هغه رنګونو پهٔ نوم چې دَ ژوند نوي سحر ته دَ عدل ، جوړې ، سوکالۍ ، سیالۍ او ذوق سامان پیدا کړي

شیرین یار یوسفزے
shereenyar@hotmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ رنګونو پېوندونه، دَ فکر او خيال بل مشالونه

نورالامين يوسفزے

دَ فن په دنيا کښې دَ روايت نه تر جديديت سـفر او په دغه سـفر کښې دَ پرون (ماضيت)، نن (حاليت)، او سبا (مستقبل) زنځير جوړ ساتل لکه دَ انساني ژوند يو نامياتي حقيقت او عمل دے. دغه جانانه سفر کښې دَ دغه عمل دوه نوراړخونه هم دي چې يو ته پوهان شعري جماليات او بـل ته فکري او جذبـاتي معنويت وائي. دَ شـعري جمالياتو تعلق او تړون دَ فن پارې هنري ښکلا، تکنيک او اسلوب سره دے چې پکښې دَ متعلقه ژانر دَ مودو موجود روايت او وجودي ځاندره هم شـامل دي او په فکري جذبـاتي معنويت کښې دَ فکرونو، قـدرونو او خيالونو ټول رنګونه، ټول خوندونه او دَ دغه رنګونو ټول پېوندونه او مقـــــــصدونه راځي. دَ روايت نه تر جديديت دغه دَ ښکلا سفر داسې دے لکه دَ بنياد (اړې) نه تر عمارت عمل. فنکار خپله په لمحه موجود کښې اوسي خو خپل لوستونکے دَ حال په لار و کله ماضي او کله مستقبل ته بوځي او دا هله ممکن وي چې دَ فنکار او تخليق کار خپل تړون دَ ماضي سره هم پرې شوے نه وي، دَ حال په معروضي حـالاتو ئې هم نظر وي او دَ راتلونکي وخت په رُخ او مخ ئې هم سـر خلاص وي. فن دَ ژوند آئينه دار وي او دے، نو ماضي، حال او مستقبل درې واړه اړخونه به ارومرو لري او زما په خيال په دغه عمل او سفر کښې کوم تضاد هم نيشته. هر ساهو فنکار دَ روايت او جدت په تړون پوهه وي او دَ روايت په سپوري دَ حال په لار دَ مستقبل دشتې ته دَ تګ هنر او چل ئې دَ ذات برخه وي، هغه دَ خپل تخليقـي توان روحـاني وجدان په زور خپل تخليقـي سـفر دَ روايت په غېږ او سايه کښې پېل کړي او دَ حال په لار مخ په وړاندې ورځي ځکه چې حال بې دَ ماضي نه هېڅ وجود نه لري خو دَ روايت په سپوري پرلت وهل او هر څه ته ښه وئيل او بې دَ سبا دَ تصور نه تخليق کول تخليقـي عمل دَ جمود او "اررېشنلزم" ښکار کړي چې يوه بـله انتها ده. هم په دغه تناظر او دغه چوکاټ کښې فنکار او تخليق کار خپل تخليقي انفراديت او هنري ځانګړتيا لور ته سفر کوي.

دلته زما دَ وينا مطلب دا دے چې نه خو يو ساهو فنکار او قلمکار محض دَ روايت پرستئ قـائل وي چې ګوندې پرون هر څه ښه وو او پرون (ماضي) کښې ژوند کـول پکار دي ځکه چې دا رويه هم منفي او غېر تخليقـــي رويه ده، او نه دا نظر لري چې ګوندې پرون او روايت ټول په ټول منفي او بـې کار دے، ماضي هډو دَ سـره رد کول پکار دي، دغه بـغاوت او دغه جارحـانه رويه هم تخريبي رويه ده. لاره چرته مينځ کښې ده. دَ پرون ساهو روايات او قدرونه په روح کښې ژوندي

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتل او دَ نن معروضي حالاتو سره دَ سبا پهٔ لور تګ يو مثبت عمل او مثبته رويه ده او زهٔ چې نن دَ کوم شاعر پهٔ حقله خپلو لوستونکو سره خبره کوُم هغه پهٔ دغه ټوله خبره، دغه ټولو حقيقتونو او ټولو نذاکتونو پوهېږي. هغه هم دَ پښتنو پښتونولی، حجرې جمات او جرګې مرکې پهٔ مثبت زماني او زميني وجود او کردار رسي او دَ نن پهٔ تقاضو هم پوهه دے. دَ فن پهٔ جمالياتي او هنري اړخ ئې هم لاس بر دے او فکري او تخيلاتي بنياد ئې هم مضبوط دے، ځکه ورته مونږ دَ نن دوُر نمائنده تخليق کاروئېلے شو او ځکه زهٔ دا هم وايم چې نن پهٔ کوم کتاب تبصره کوم دا محض دَ رنګونو پېوندونه نهٔ دي بلکې دَ يو تعليم يافته، زيرک، جهانديده او روښان فکره پښتون دَ فکر و خيال بل مشالونه دي چې پهٔ رڼائي زمونږ دَ زلمو روحونه او ذهنونه روښانه شي.

دَ "افغان ګلونه" او "اوښکې مشالونه" نه پس دَ ښاغلي شيرين يار يوسفزي دا دريمه شعري ټولګه "دَ رنګونو پېوندونه" ستاسو پهٔ لاس کښې ده.

کهٔ چرې فن دَ فنکار دَ ذات اظهار هم وي نو بيا ضروري ګنم چې څو خبرې دَ صاحب کتاب پهٔ حقله نورې هم وُکړم.

زهٔ شيرين يار يوسفزے دَ هغه زماني نه پېژنم چې لا هغه او دَ هغه روښان فکره ورور زرين زاده ايسفزے پهٔ شنه شونډه زلمي وُو، اوس چې زهٔ دَ دې پروني زلمي او نني نيمځال پهٔ دريمه شعري ټولګه خبره کوم نو اوس دا هغه نوخېزه زلمے نهٔ دے، يو استاذ شاعر او اديب او دَ ډېرو تودو سړو نه راتېر شوے پښتون دے. استاذ ورته ځکه وايم چې لکه ما وړاندې هم ووې چې هغه تش شعر نهٔ وائي (ليکي)، دَ شعر پهٔ فن، ژبه و بيان بيا پهٔ بديع او علم تقطيع ئې هم لاس بر دے، دَ املا پهٔ ټولو ګټ پېرونو، دَ ژبې پهٔ ساختياتو او فرهنګي آهنګونو هم دَ ځنو ډېرو لويو لويو او مقبولو شاعرانو نه زيات پوهېږي او دې سره سره ئې فکري او نظرياتي بنياد هم ښهٔ زور او مظبوط دے. دَ خپلې خبرې پهٔ تسلسل کښې به يو وارې بيا دا او وايم چې دَ خپل قام او خپلو رواياتو سره ئې بې کچه مينه ده. خپل کلے او لس او ښکلے وطن ئې هم جانان دے خو پهٔ دغه مينه کښې ئې دَ هوش، خرد او توازن لمنه چرې هم نهٔ ده پرېښې ځکه چې تنقيدي شعور او عمراني بنيادونه ئې هم پاځهٔ دي. دَ هر څهٔ ښهٔ دي پهٔ ځای ئې دَ څهٔ ښهٔ دي او څهٔ خراب دي، څهٔ پکار دي او څهٔ نا، پهٔ فارموله دَ يو زيرک انسان پهٔ حيث ښهٔ رسېدلے دے او دَ يو تخليق کار پهٔ حېث ئې پهٔ شاعرۍ کښې دَ دغه شعور رڼاګانې ځان ښائي. دَ قام او اولس ټولې مسئلې، ټول دردونه، دَ نړۍ دَ منډائي ګرو منافقانه چالونه او پهٔ دې پاکه خاوره دَ هغوئ دَ دلالانو مکرونه او فريبونه ورته ښهٔ معلوم دي. دَ تېرو څلوېښتو کالو پهٔ هيجاني دور کښې دَ تخليق شوي ادب پهٔ

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



رُخ او مخ هم پوهه دے او دَ تجزیې توان ئې هم لري، ځکه نو په دغه پوهه، زیرک او روښان فکره نظریاتي قلمکار خبره کول ډېر اسان هم دي چې مرام او مقصد ئې معلوم دے خو ډېر ګران هم دي ځکه چې هنري توان او فکري الوت ئې دَ زیاتې پوهې او لوستې تقاضه کوي. دَ شاعري سره سره هغه یو ښهٔ فعال سیاسي ورکر هم دے او نن سبا په سوشل میډیا دَ خپل قام او خپلې ژبې مبارزه هم کوي چې دا کار او زیار ئې په پښتنو زلمو کښې دَ بېدارۍ او ځواک په اړوند ډېر ګټور او دَ ستائېنې وړ دے. هغه چې کله ماته "اوښکې مشالونه" کتاب راواړ لی کړے وو نو په هغې ئې لیکلي وو چې "خپل خوږ او قدرمند نورالامین یوسفزي ته دَ بندي ساعتونو ازاد فکرونه "اوښکې مشالونه" ډالۍ کوم" او زما په خیال ئې دا دعوه سل په سل درسته وه ځکه چې دَ زندان دَ تورو تمبو شاته صیاد دَ بلبل وجود بندي ساتلے شي خو دَ هغه روح او سندره نهٔ شي پابند کولے، ځکه خو قلندر مومند هم دَ زندان دَ تورو تمبو شاته دا اعلان کړے وو چې

ے دَ اشنا یاد دَ قفس ورمات کړو
بلبلتونه دزې دي په کور کښې وُشوې

او ځکه زمونږ شاعر هم په دغه تورتم کښې دا مستانه نعره وهلې وه چې

ے دا زهٔ ځوز چې خدای هما کړم
بیا وُ ما ته لوړ پرواز څهٔ
دې نظر، پنجو او پَر ته
کوم باتور او کټه باز څهٔ

دَ ښاغلي شیرین یار یوسفزي فن او نظریه فن زمانه اګاهو هم دَ پښتو ادب سترو ستهو ستائېلي او واضحه کړي دي او دا اعلان ئې کړے دے چې دَ هغهٔ دَ فن جمالیاتي او فکري دواړه بنیادونه ښهٔ پاخهٔ او مضبوط دي. دَ خپلې خاورې او ثقافت رنګونه هم لري او دَ پښتون رومانس خواږهٔ هم. خو په دغه جذباتو او رنګونو کښې ئې دَ خپل قام او اولس دَ ستونزو او راپېښو چیلنجونو نه هیڅ کله هم مخ نهٔ دے اړولے او دغه شان ئې دَ یو ساهو فنکار او قلمکار وظیفه هم په غوره ډول تر سره کړې ده.

کله چې ګران مشر راجولي شاه خټک صېب دَ هغهٔ په حقله وائي چې دا زلمے مالیدلے نهٔ دے خو دَ دهٔ دَ شاعرۍ نه دا اندازه لګولے شم چې دے یو ترقي پسند، نظریاتي تخلیق کار دے او هسې په هوا کښې ئې تخلیق نهٔ دے کړے، دَ تخلیق په ټولو معروضي لارو راتېر شوے دے او هم ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل کلاسیک څنبلے او هضم کړے دے، تر دې چې دَ ستر حمزه نه ئې په تخلیقي انداز کښې مثبت اثر هم اخستے دے. نو دا دعوه دَ هغهٔ درې واړه شعري مجموعې په ښهٔ ډول اقراروي.

زهٔ چې نن دَ هغه په دریمه مجموعه یو ځغلنده نظر اچوم نو په دې نتیجه رسم چې که دَ فکر و نظر بنیاد او اساس ئې هم هغه زوړ (افغان ګلونه او ښکې مشالونه) دے خو دې نوې شاعرۍ کښې ئې دَ فکر و فن نوې نوې زاویې، دَ هنر او ژانر نوې نوې منفرد لارې او دَ وېنا نوي نوي تازه آهنګونه محسوسېږي. زهٔ چې دَ هغهٔ په دې کتاب کښې په رباعۍ، نظم او غزل نظر اچوم او بیا دَ هغهٔ خوښ زوړ صنف ته دَ هغهٔ ورکړې نوې نوم سره ګورم نو زړهٔ مې وائي چې دا دعوه هم وُکړم چې دغه صنف (دریېزه) زمونږ شاعر په حقیقت کښې دَ زړهٔ په زور او مینه تخلیق کړے دے او مزاج ئې هم ورته ښهٔ په خلاص مټ جوړ کړے دے.

دریېزه څهٔ شے دے؟ او دَ پښتو ادب په زړو رېښو کښې وجود لري او کهٔ نا؟ نو په دې حقله به دومره اووایم چې کله دَ ښاغلي اسماعیل ګوهر "مسکا" چاپ شوه نو ما دا لیکلي وو چې دَ اســــماعیل ګوهر دَ روح نه چې دَ هائیکوز په نوم کوم درې مصریزه نظمګي راوتي دي، دغه نظمونه په پښتو فوکلور کښې دَ سبلابونو دَ څهٔ لږ ډېر فرق سره دَ اګاهو نه وجود لري. هسې هم نظم دَ پښتو خپل او دَ ټولو نه زوړ صنف دے، غزل بیا ډېر وروستو پښتو ته راغلے دے.زمونږ ټول زاړهٔ (فوکلورهم) تخلیقونه واړهٔ لوی نظمونه دي چې فارمېټ ئې دَ یو بل نه بدل دے او چې کله مونږ دَ نړیوال کلي برخه نهٔ وو جوړ شوي نو دَ خپل کلتور په یخ سېورې به زمونږ ماشومانو چې کوم نظمونه تخلیق کول او وئېل. دغه اکثر درېځې وې لکه دا چې دي.

وه سپینې سپوږمۍ!
ستن دې ورکه کړه نرۍ ‎(۱)
زما ورور درپسې ګرځي، لکه غشے لیندګۍ

بــــې پښو ازمرے راغے
بــــې لومه ګډه ئې یوړه ‎(۲)
یو ړوند پرې اواز وُکړو چې په کوم طرف ئې اوړه

شکر دے چې شیرین یار دغه زوړ صنف ته نامه هم کېښوده، کهٔ څوک بل څوک دَ دې نه هم غوره نوم ورکولے شي نو بده به نهٔ وي خو دا ساعت مېدان شیرین یار وړے دے.

په تېرو څلو ښتو کالو کښې چې په پښتونوطن کښې کوم ادب (شــعر او نثر) تخلیق شــوے دے، دَ قنوطیت او ماضي پرستۍ ټوک څادر پرې خور دے او زمونږ اکثرو شــاعرانو دَ نوي ژوند نوي قدرونه او اربنائزیشن کرلے دے.

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګو چې دَ نړۍ په هره ساهو ادب کښې ناستلجیا شته (ډیزرټډ ویلیج او ویلیج بلیک سمتهـ) ئې ښکاره مثالونه دي خو زمونږ خبره لږه بدله ده. زمونږ ماضي واقعي چې ډېره شانداره او پرامن وه، په ماضي کښې هم هرڅۀ ښۀ نۀ وو، ډېر خېزونه بدلۀل پکار وو. دغه عمل دَ ارتقا په لور ورو ورو په مزه مزه روان وو خو ناڅاپه چې مونږ دَ نړیوال کلي برخه شو نو دا داسې ده لکه چې شپه په شپه بې دَ پوړو دَ کوټې سر ته ؤختلو او په دغه کوټه دَ یو عجیبه جنګ سره مخ شو چې دَ توپو ټولې خلې ئې زمونږ وطن لور ته دي. دَ نړۍ تهذیب یافته قامونه ټوپک په لاس دې سیمې ته وسائلو پسې راغلي دي، دلته ئې دلالان پېدا کړي دي او تخته مشق ئې پښتون وطن او پښتون قام دے. زمونږ په خپله خاوره بدحال دے او جنګ مو هم پېریانو سره دے، دَ ما په ما وژني پالیسي روانه ده او استعمار نوي نوي چالونه چلوي. دَ نوې دنیا نوو بادونو که یو خوا زمونږ دَ سماجي ادارو او سماجي قدرونو جوړښت رانړولي دي او دَ ماده پرستۍ او ځان ځانۍ دپو زمونږ مثبت قدرونه لکه جرګه، مرکه، اشر غوبل، خېر ښېګړه، زغم او برداشت لۀ ستوني تېر کړل، یا ئې لګیا دے تېروي ئې. نو بل خوا ئې زمونږ دَ بچو نه بمونه ساز کړي دي. منم چې دَ پښتون په فطرت کښې مزاحمت شته او دَ خاورې او عزت دښمن خو بېخي نۀ معاف کوي خو دا نن چې څۀ کېږي، ځوک رانه امریکنیان جوړوي نو ځوک رانه عربیان او ازبکان.

پښتانۀ لیکوال دا هرڅۀ ویني او ګوري او زړۀ ئې پرې ویني ویني او لمبه لمبه دے. هغه دَ روسي لیکوال خبره چې پښتانۀ شاعران دَ طوفان مارغان دي، تل ئې په طوفان کښې الوت کړے دے، دَ پیر روښان نه تر خوشحال خان خټک، دَ خوشحال بابا نه تر خدائي خدمتګار تحریک تر ادبي تحریک او دَ هغې نه تر دې دمه دَ تاریخ پاڼې ګواه دي چې پښتون شاعر او ادیب په حقیقت کښې په طوفان کښې الوت کړے دے. نن هم زمونږ شاعر دَ دغه کاروان یو متحرکه غړے دے. موجوده صورتحال چې زمونږ په خاوره کومې رویې پېدا کړي ده، په بنیادي توګه ئې مونږ په دربو خانو کښې وېشلے شو. یوه ډله دَ پرون خبره کوي خو دَ نن هرڅۀ رد کوي بله ډله دَ نن خبره کوي، ولې دَ پرون هرڅۀ کېږي، البته یوه ډله داسې هم شته چې دَ پرون، نن او سبا په تړون پوهېږي، دَ پرون ساهو قدرونه او اداري هم قدروي او دَ نن په لار دَ سبا په لور هم سفر کول غواړي. شیرین یار دَ دغه ډلې او دغه رویې سړے دے. دَ قام وجود، خپله ژبه او ساهو قدرونه دَ سبا په لور دَ نن په لار دَ پرون دَ بنیادونو سره بوتلل غواړي او تر کومه ئې رسول غواړي نو هغه دې لوستونکي هم ولولي.

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـه

دَ خپل ازاد وطن بــــبرغ مې پۀ لاس
ستورو سپوږمۍ نه هم پۀ بــره تلمه
دَ دغه خوب راله تعبــیر ؤباســئ

دَ پښتون پۀ خاوره چې کوم لوبه ګرمه ده، زمونږ شاعر ترې ښۀ پۀ زور او زېر خبر دے. هغه ټول کردارونه هم پېژني چا چې دغه لوبه ګرمه کړې ده او څوک چې دغه اور ته لمن وهي او دَ دې سره سره هغه دا توان هم او جرات هم لري چې دَ هغه مخونو نه نقابـونه پورته کړي کوم چې دَ پردې شاته دي. لکه ما چې ؤوې هغه خپلې خاورې، وطن او خپلو مقدساتو باندې وروک مئېن دے خو دغه لور ته ئې رويه منطقي او اپروچ ساهو دے. انداز او سوچ ئې مثبت (آپټیمسټ) رویه تنقيدي او تر څۀ حده مزاحمتي ده خو فکر ئې عمراني بنيادونه هم لري. تهذيبي هم او فني هم، کۀ خبـره ئې دَ دربېزو پېل کړو نو دغه دربېزې دَ دغه فکري بـنيادونو سـره سـره دَ روزمرّې او محاوري بـلها خوارۀ هم لري، دَ طنز و مزاح مالګه پکښې هم ګډه ده، پښتو رومانس او دَ وطن دَ ښکلا رنګونه پکښې هم ځان ښائي او دَ متلونو برمحـل اسـتعمال پکښې معنوي او کلتوري خوارۀ هم راپېدا کړي دي. دَ دې باوجود چې پۀ خپل وطن او قام اولس مئېن دے خو دَ تهذيبي نرګسيت نه ئې تر ډېره حده لمن بچ کړې ده او دَ خود احتسابۍ او خود تنقيدۍ پۀ لار پۀ ډېر جرات سره راتېر شوے دے، دَ خپلو خبرو پۀ ثبوت کښې ئې څو دربېزې وړاندې کوم نو بيا بـه غزل، رباعي او نظم لور ته ځُو.

ـه

ســترګې مې دواړه ډکې ډکې شــولې
ماښام دے، ناست يمه دَ سين پۀ غاړه
دَ زلفــو يــاد پــۀ زړۀ راوربــدۀ

ـه

خلکو اســمان کښې ســيارې ؤنيوې
پښتون پۀ کلي کښې ډېران لاندې کړو
زمونږه قوم هم دومره پاتې نۀ دے

ـه

دَ ځان او مال دَ حــــفاظت پۀ خاطر
لاړم تانې څخه مې کور واخســتۀ
ايله بــاران نه پرنالې لاندې شــوم

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیلتون ته وایه، څه خپل کار دې کوه
مونږه یو بل وته به بیا ؤګرځو
او به په ډانګ باندې بیلیږي کله

نن هغه ښکلې او هوښیارې جینې
"خبر" چې فقیر ته ورکوو، وئېل ئې:
"ځان په نیستۍ کښې دَ مستۍ نه ژغوره"

بریت او شمله مې په خاطر نۀ نیسي
حسن په خپله یو طاقت دے، منه!
دَ زور آور او به په لوړه خېژي

تیارې څۀ داسې رنګله ګورې شولې
چاته تر څنګ خپله سایه نۀ ښکاري
غلو خو هم داسې شپه لۀ خدایه غوښته

عقل شعور سره مو ډزې کړې
دَ وخت او بخت سره ده ورانه زمونږ
ده مو دَ ځان سره پخه دشمني

په مخ دَ زمکې دغه ټول مخلوقات
نۀ کا توښه انبار دَ رزق او مال
مګر سیوا لۀ یو مېږي او انسان

د وخت په دوړو هر څۀ خړ نۀ دي لا
تابانه مخ پښتني جونه شته دے
سپوږمۍ دې ځان وته غاوره نۀ شي

د ازادۍ، مینې او امن وطن
مقتل مقتل زندان زندان شو راته
خدایه! څۀ ؤشو او لا څۀ به کېږي

دَ شب پرستو نه کوڅه خطا ده
تورابان ګرځي، چرته سر پټوي
دَ سبا ستورے په افق ؤځلید

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



شـيرين يار غزل هم ښهٔ ليکي، دَ غزل پهٔ فن ئې موټے کلک دے، دَ کثرت مطالعې لهٔ کبـله ئې پهٔ ستائل دَ کلاسيک سپورے زيات حاوي دے. دَ حمزه بابا اثر هم پرې کله کله محسوسېږي، دَ خوشحال بابا، حميد بابا، علي خان او کاظم خان شېدا ښهٔ قاري هم دے نو دَ پښتو ادب دَ دغه عناصر خمسه دَ ستائل خواږهٔ ئې پهٔ غزل کښې ځان ښائي. ګو چې دغه ستائل او دغه (ډائيټيشن) زمونږ دَ کلاسيکي ادب سره زيات موزون ښکاري خو زمونږ شاعر هم پهٔ زوړ جام کې نوي شراب وړاندې کوي خو دا هم دَ ښاغلي شيرين يار يوه ځانته تخليقي ادا ده چې احساس دَ ادراک پهٔ لار مخې ته راغلے دے. دَ هغهٔ پهٔ دې مجموعه کښې ټول ټال څوارلس غزلونه دي چې دَ دريېزو او رباعيانو پهٔ مقابله کښې ډېر کم دي او دې نه ئې تاسو دَ افتاد طبع (رجحان) اندازه پهٔ اسانه لګولے شئ. يو څو غزلونو نه ئې څو شعرونه دَ خپلو لوستونکو مخې ته ږدم او بيا نظم لور ته ورځم.

ـه هغه يار څو جفاکار دے، خو پښتون دے
چې اغيار مې پښې راښکي نو بيا وُدرېږي

ـه پهٔ خاطر د اغيارانو اخګر پرېوځ
چې پهٔ ما د يار د مينې نظر پرېوځ
کمتري او عاجزي مې هومره زور کښې
دَانا او د غرور هغه غر پرېوځ

ـه مړاوې ستر ګې بلا مړې کا
خون آشـامې لا مړې کا

هر ارمان نه مې سر پرې کا
ځه! اوس جوړې منارې کا

ـه ماته دې يادونه زور ګيري ښائي
کور ته مې دَ زړهٔ پهٔ ډبوالهٔ راځي

پام کو رے لهٔ ستر ګو مې ؤنهٔ لوېږې
توى او ښکه ليمهٔ وته بيا نهٔ راځي

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـه
سترګې دَ حالاتو راته ورانې دي
ذوقه! دَ سیالۍ خبرې ګرانې دي

غشو دَ ستم ته سینه تانې دي
شوقه! تلوسې دې پهلوانې دي

ـه
لویه ورشـو دَ پښتنو کۀ بـې بـهاره نۀ وے
ښکلې هوسۍ به دَ دامانې دومره خواره نۀ وے

منګې تېکرې، ګړونج ټوټې، جونه تار تاره نۀ وے
زمونږ دَ کلي دَ سیند غاړه به اوزګاره نۀ وے

تا بـه زما دَ کامرانیو جنډې هسـکې لیدې
زما دَ ژوند کۀ دَ بــلا پۀ کوڅه لاره نۀ وے

ـه
ماته ئې وعده ښه ده
نوې بــهانه ښه ده

خدایه! مازیګر ته خبر
داسې تماشه ښه ده

دَ شیرین یار نظم کښې خارجي او داخل دنیا او نني واقعات، قام ته راپېښې ستونزې پۀ ښۀ ډول بیان شوي دي، ګو چې دَ هغۀ دَ نظم عمومي رنګ ساده او روایتي دے، دَ پښتو نظم چې مولانا فضل محمود مخفي ئې رده اېښودې ده او دَ نظم بابا اجمل خټک کمال ته رسول دے یو مضبوط روایت لري خو دَ شیرین یار دَ نظم اختصار او سادګۍ دغه نظم له تر یو حده ځانګړے انداز او اسلوب ورکړے دے. پۀ لنډو او ساده ټکو کښې ډېر څۀ وئېل دَ غزل خاصا ده خو شیرین یار دا کار دَ نظم نه اخستے دے. ځنې نظمونه خو ئې دَ داخلیت بخرې او درد څرېکې هم لري، لکه "دَ تندرونو پۀ شپه" "جرات" "څو چې وینم" وغېره.

"اے نجیبه! اے شهیده!" نومې نظم خپل لوستونکے هم دَ شاعر پۀ نظریه ژوند او هم نظریه فن پوهه کوي او هم ئې پۀ دې حقیقت رسوي چې زمونږ شاعر څومره پۀ لږو او ساده ټکو کښې څومره مؤثر او منظم خیال دَ نظم پۀ چوکاټ کښې وړاندې کولے شي.

www.pukhto.net

ـه

دَ پښتـــون دَ چمـــن ګلـــه!		دَ دښمن دَ ســــترګو خاره!
ســـرداری، درنه لوګے شـــه		دَ وطن دَ ســـر دســـتاره!

نهٔ ډيوه شـــته چې کړم بـــله		نهٔ ګلان شـــته چې ګېډۍ کړم
دا څـو اوښکې پښتنې دي		دَ تا روح ته بـــه ډالۍ کړم

ملامت درته ټول قـــام دے		دَ تا روح ته مې ســـلام دے
اے نجیبـــه اے شـــهیده		دَ تا روح ته مې ســـلام دے

"دَ روح کرب" نومې نظم کښې ئې دَ خارج او داخل وصال او اتصال دَ لوستو او محسوسؤلو وړ دے، وائي

ـه

څو کهٔ ســـترګې کړمه پټې		او زهٔ نـهٔ ګـورم یـو لـور تـه
یا مې غوږ هم هډو نهٔ ږدم		هرکوم غږ او هر یو شـور ته

دغه لمس هم پسې شَل کړم		او دا ژبـــه هم اوده شـــي
کهٔ مې جوش لهٔ لاسه ورکړم		بیا هم هوش پسې چپه شي

خو دَ روح ســره بــه څهٔ کړم
هغـه لار او چـار راښایـه
کنه! دلته اوس بـې وس یې
دَ درد کریکه مې بیا ستایه

زمونږ اکثر شاعران دَ رباعی پهٔ نوم قطعې او نیمګړي غزلونه لیکي، دَ رباعۍ دَ وزن او بحر لپاره کهٔ پهٔ عربۍ کښې دَ لاحوه ولا قوه الا باالله مثال ورکولے شي نو پهٔ پښتو کښې مونږ څخه دَ خوشحال بابا وېنا زمونږ لپاره بل معیار دے، بابا رباعی داسې لیکي.

ـه

راشـــه! ښېګړه دَ وَنې ګوره
خپل ځان پهٔ نمر کا، بل کا تر سېوره
پهٔ سنګ ئې وولهٔ، مېوه درواچوي
خصلت لهٔ ونې، واخله اے ورروه

شیرین یار هم رباعیانې دَ رباعۍ پهٔ چوکاټ کښې لیکلې دي او دَ خپل فکر ښکلاګانې ئې دَ فن پهٔ چوکاټ کښې دننه وړاندې کړې دي، چونکه هغه دَ "ادب دَ ژوند لپاره" دَ کاروان یو تکړه غړے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے نو دلته ئې هم ژوند او دَ ژوند دَ ساهو قدرونو څنه ستر ګه ښۀ پۀ خلاص مټ کړې ده، البته پۀ څنو رباعیانو کښې هغه دَ یو روایتي پښتون پۀ صورت کښې هم راښکاره شوے دے او ډېر حقیقتونه ئې دَ یو روایتي پښتون پۀ انداز کښې رامخې ته کړي دي ځکه چې دَ رباعۍ روایت او انداز زور او پوخ دے.

لکه چې وائي ـ

ـ بد شي لۀ بدو او ښۀ دَ ښو نه
خوی دَ سړو شي، مګر سړو نه
ځوک چې دَ اصل نسل نه روغ وي
کار دَ پښتو هم بویه هغو نه

ـ وطن ته راشه، جوړ مرغزار دے
پۀ للمو دشتو، هم اوس بهار دے
چې ورته ګورم، زړۀ مې پسخېږي
ګل خوا ته ګل دے، یار سره یار دے

ـ چې کله غوړ یې، دنیا راز غلي
خو چې لړ سپور شې، ټول ګنه تللي
دغه دنیا ده، دغه ئې رنګ دے
چې پرې تکیه کا، هغو ژړلي

ـ پۀ ژړا ژاړي، پۀ ویر مامور دے
کۀ ځوک مالک دے کۀ ځوک مزدور دے
دَ جدل اور دے، وطن تنور دے
ایره ئې واخله، روغ کۀ رنځور دے

دا وو دَ شیرین یار دَ رنګونو پیوندونه او زما دَ دغه کتاب پۀ حقله خیالونه. دا دَ خپل دور دَ یو استاذ شاعر او قلمکار دَ فکر و فن ښکلا ګانې وې او دي. ځوک چې پۀ خپله هم دَ ژوند پۀ ډېرو تیارو او پیچیده لارو راتېر شوے دے، ځوک چې ژوند پۀ دې لړ عمر کښې دَ بلها تودو سړو سره مخ کړے دے. مایوسي او ستړیا چې دَ چا پۀ کتاب کښې وجود نۀ لري. ځو ځله راپرېوتے دے خو بیا هم پۀ خپله پا څېدلے او روان شوے دے ځکه چې دَ باچا خان دَ ژوند او جدوجهد فلسفه باندې یقین لري او هم پۀ دغه رڼا لاره ښۀ پۀ ډاډه زړۀ روان دے.

دَ شیرین یار دَ ښۀ ژوند لپاره دعاګو

نورالامین یوسفزے
شاه منصور صوابی
۷ جون ۲۰۱۴

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رنګونه پیوندونه

شیرین یار یوسفزے

دا کتاب چې ستاسو دَ وړاندې دے، دغه کښې دربیزې، رباعیانې، خاص ډول لنډ نظمونه او ځو غزلونه دي. دا واړه تخلیق دَ زندان دننه دَ مرګ (پهانسۍ) کوټه کښې شوے دے. دې نه وړاندې زما دوه کتابونه "افغان ګلونه" او "اوښکې مشالونه" چاپ دي. دغه سره سره مې په چاربېته یو کتاب ګوتے (تحقیقي مقاله) هم لیکلے دے او بل کتاب مې دَ پښتو په "الف بې" شعر، قافیه، ردیف، بحر، وزن او رواني لیکلے دے چې ډېر زر به ستاسو دَ وړاندې وي.

"دَ رنګونو پیوندونه" دَ کتابت او ډیزائن ګران کار ښاغلي خیام یوسفزي په ډېر اخلاص تر سره کړے دے. دَ مرګ دَ کوټې دننه ما خپل تخلیق کاغذ ته سپارلے، بیا مې ترې په موبائل فون عکس اخستے او سمدستي مې خیام یوسفزي ته (چې په سعودي عرب کښې ژوند کوي) دَ اي میل له لارې ورلیږلے دے. هلته هغهٔ کمپوز کړے او بیا ئې ما ته دَ املا دَ سمون لپاره رالیږلے. دَ املا دَ سمون نه ورستو ورته ما بیا لیږلے او هغهٔ ځان سره خوندي کړے. په زندان کښې دَ حالاتو او بیا دَ لیکونو دَ بچ پاتې کېدو هډو څهٔ پته نهٔ لګي.

خیام یوسفزے دَ یو ښهٔ کشر او منونکي په حېث شامدام دَ زده کړې هڅه کوي او دَ "پښتو ډاټ نېټ" له لارې دَ دنیا ګټ ګټ ته دَ پښتو لیکونه او کتابونه رسوي. دغه رنګ نور بلها ډېر ملګري لګیا دي او دَ نېټ له لارې دَ پښتو ژبې خدمت کوي. نن په فېس بک او دَ سوشل میډیا په نورو پاڼو کښې هر پښتون ته دَ پښتو لیکونه دَ سترګو په رپ کښې ملاوېږي، ډېر ځنې پښتانهٔ چې دَ پښتو دَ لیک لوست نه نااشنا وُو، هغو هم دَ پښتو لیک لوست زده کړو او ډېر ځنې اوس پښتو کښې خپل تخلیقونه هم وړاندې کوي. تخلیق، تنقید او تحقیق سره سره دَ پښتو په املا ډېرې خبرې وُشوې، دَ عام وګړي سره سره دَ نوو لیکوالانو او خاص دَ مسافرو پښتنو ډېره ښېګړه وُشوه.

دغه لړ کښې زمانه چې څومره هم کېدے شو نو ما خپل کردار ادا کړے. زهٔ په هغه ټولو ملګرو او خاص په مسافرو پښتنو ویاړ کوم چې هر چرته او هر وخت ئې خپله ژبه ژوندۍ ساتلې ده.

په دغه مسافرو او خپل قام، ژبې، کلتور او ادب باندې مئین ملګرو کښې یو رانه دَ نظم غوښتنه وُکړه، نظمونه خو ما وړاندې هم ډېر لیکلي خو دغه وخت ما فکر کوو چې کوم داسې یو صنف کښې طبع ازمائي وُشي چې هغه هره موضوع زغملے شي او هغه ځنې خبرې چې مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې غزل او عام نظم کښې نۀ شو کولے نو چې هغه ته هم ځای پۀ لاس راشي. دغه وخت ماته دربېزه او رباعي پۀ نظر کښې راغلل خو دربېزه مې زياته خوښه شوه، رباعي دَ وزن او بحر پۀ حواله خپل ځانګړے انداز لري چې پۀ دغه اړه به هم خبرې کوُم خو ډُلته به دربېزه باندې پوره خبره کوُم. ځکه چې دغه ته دِ هر خلک هائيکو وائي چې يوه غټه تېروتنه او ناخبري ده. اول خبره به پۀ هائيکو کوُم چې دا څۀ شے دے؟ هائيکو دَ جاپاني ژبې شعري صنف دے چې پۀ اصل کښې دَ جاپاني ژبې دَ نظم "هائي کائي" دَ سر درې مصرعو نه اخستے يا ساز کړے شوے يو صنف دے. دغه سر درې مصرعو ته به ئې "هوکو" وئيل. دغه هوکو بر خې ته دَ بيل صنف شکل ورکړے شو، لکه څنګه چې مشرقي شاعرۍ کښې غزل دَ قصيدې دَ تشبيب نه راجدا کړے شو او يو بل صنف ترېنه جوړ کړے شو خو دلته دا خبره اهم ده چې غزل هم هغه شکل کښې دے او بيا چې کومې ژبې ته هم لاړ دے نو پۀ خپل شکل کښې لاړ دے، دغه ژبو کښې ئې هم نوم غزل دے او دا يوه خبره هم ده چې دغه ژبو کښې دَ غزل پۀ رنګ کوم شعري صنف نۀ وو نو ځکه ورته غزل لاړ دے. کۀ چرې دغه ژبو کښې دَ غزل غوندې کوم شعري صنف موجود وے نو بيا هلته دَ غزل هډو ضرورت نۀ وو. خو چې مونږ هائيکو ته ګورو نو دَ دې معامله جدا ده، يوه دا چې هائيکو پۀ جاپان کښې دَ ۵، ۷، ۵ سپلابونو درې مصرې لري، دويمه دا چې دَ درې مصرو نظم پۀ پښتو کښې دَ وړاندې نه موجود دے، دريمه نکته دا هم ده چې دَ جاپان هائيکو دَ موضوع لړ کښې محدوده ده او زمونږه درې مصرعيز نظم لا محدود دے.

دَ ۵، ۷، ۵ نمونه ــ دَ ګلو ځانګه
ځکه ځنګېږي هسې
دَ سحر باد دے

ښاغلي اسماعيل ګوهر صيب پۀ خپل کتاب "مسکا" کښې دَ پښتو خپل درې مصرعيز نظمونه (دربېزې) وړاندې کړې دي چې دَ يوولس سپلابونو يو شان مصرعې لري او څلورم وزن کښې دي خو دَ نامعلوم سوب پۀ بنياد ئې ورله نوم "هائيکو" ورکړے دے. دَ دغه نه وروستو بيا نورو شاعرانو هم دَ دوي تقليد وُکړو او دَ پښتو دغه خپل نظم ته ئې هائيکو ليکل يو سم کار وُباله. دغه يوه لويه غلطي وه او ده، دا کله هم هائيکو نظم نۀ دے، دا دَ پښتو خپل درې مصرعيز نظم دے چې ما ورته نوم "دربېزه" ټاکلے دے. دا صنف دَ پښتو ادب پۀ تاريخ کښې (دَ جنګي غړونو پۀ نوم) هم موجود دے، لکه دَ مرزا الغ بېګ دربار کښې دَ يوسفزو مشرانو دا وينا.

لکه يې نو داسې وُونه          لاس تړلي خدای درکړي
اوس مو وژنه لکه پښُونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ ماشومانو اکثر صوتونه دَ درېِ مصرعو دي یعني دربیزېِ وي لکه:

توره توته! مات دي شه ښاخونه
زۀ درختے نۀ شم
او هرچا درکښېِ جوړ کړي دي ټالونه

"بابُو لالېِ" هم پۀ درېِ مصرعو کښېِ دي . یعنې دا هم دربیزېِ دي لکه

دَ بالښت لاندې انار دے
داسې زُوم مو دروستلے
چې نامتو پۀ کندهار دے

دَ دغه نه زیاتي نورېِ هم بلها بېلګې پۀ لاس راځي خو دَ دغه سره دا یادؤنه هم ضروري ګڼم چې دَ ایران او افغانستان پۀ پُوله چې کومه کتبه موندے شوې ده او دَ هغې پۀ حواله دَ پوهانو اندازه داده چې دا څو زره کاله زړه کتبه ده. نو پۀ هغې هم دَ خبره دا دربیزه لیک ده.

نۀ اړیکے یم
نۀ دروغژن یم
نۀ زورکړے یم

دَ دغه سره مونږ ته دا هم معلومه شوه چې "دربیزه" دَ پښتو زبات قدیمي نظم دے . دَ هغه نورو بېلګو نه داسې ښکاري چې دربیزه دَ جنګ یا ښادۍ یعني مهم لۀ کوره راوتلې ده.

دَ جوړښت پۀ حواله به دا خبره وُکړم چې دَ یو هومره سېلابونو درېِ واړه مصرعې هم شته او لنډېِ، اوږدې مصرعې هم شته. درېِ واړه مصرعې یو وزن کښېِ هم شته او درېِ واړه مصرعې دوه یا درې جدا جدا وزنونو کښېِ هم شته. خو اکثر یوه مصرعه دَ سېلابونو دَ شمېر او یا وزن پۀ حواله بدله وي. دغه نه پۀ آخوا درېِ واړه مصرعې ازادي (دَ قافیه او ردیف) هم شته. او داسې هم دي چې اوله مصرعه او دریمه مصرعه هم قافیه وي.

دا خبره ما دَ ټولو دربیزو پۀ حواله وُکړه چې پکښېِ اولسي دربیزېِ او دَ ماشومانو صوتونه هم دي. دَ شاعر لپاره دا ضروري ګڼم چې هغه دَ وزن خیال لازم وُساتي. نوره ئې خوښه ده چې دَ څومره سېلابونو برابر مصرعې (درېِ واړه) ترې او قافیه ردیف راوړي او کۀ نا.

داوخت ما خپله هم پۀ یوولس سېلابونو کښېِ درېِ واړه مصرعې برابر لیکلې دي او دَ ټولو وزن څلورم دے یعني هره مصرعه کښېِ هر څلور سېلابه سېټ کښېِ څلورم سېلاب دروند دے.

اسماعیل ګوهر صیب او دَ هغۀ نه وروستو نورو شاعرانو هم اکثر دغه یوولس سېلابونه بحر او

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلورم وزن کښې (دَ قافیې او ردیف نه ازادې) دربیزې لیکلې دي.
دَ دغه تقطیع څۀ داسې ده

۱۱ = /// + //// + ////

هر ځلور سپلابه سپټ کښې ځلورم سپلاب دروند دے. دلته بحر دَ یوولس سپلابونو دے نو ځکه آخري سپټ نیمګړے راغے. دَ پښتو شعر کښې هم آخري سپټ نیمګړے راتلے شي، په عربی، فارسی او اردو ژبو کښې دا کار دَ زحافونو دے. زمونږ دَ پښتو شعر دَ وزن خپله طبعه ده. دَ عربی، فارسی او اردو ژبو دَ عروضو په قاعده باندې دَ پښتو ژبې دَ شعر بحر جوړول او وزن په زور سازول یو غلط او مصنوعي کار دے.

هرڅو که دَ وزن دا کار بنیادي طور یو دے خو ژبې او دَ ژبو طبعه جدا جدا ده. عربی ژبه کښې دَ وزن او بحر دَ پاره لفظونه مقرر دي. دَ دغه لفظونو خپل دَ شمېر حرفونه او خپل انداز باندې دَ وزن حرکتونه دي خو پښتو کښې دَ دغه لپاره لفظونه مقرر نۀ دي، داسې لفظونه مونږ لټولے او مقررولے شو خو دَ سپټ دا طریقه ډېره اسانه ده.

دغه لړ کښې زما کتاب "شیرین بیان" راروان دے. په دغه کتاب کښې پوره خبره شته. دلته زۀ صرف دومره وَوایم چې دَ پښتو او عربی وزن او بحر محض په دغه سپټونو او لفظونو سره بیل نۀ دي دَ دغه دواړو کار یو دے. دَ پښتو او عربی ژبې دَ شعر دَ وزن بېلګوټ په نور څۀ دے او هغه دا چې دَ عربی و فارسی دَ شعر لپاره دَ دغه مقرر لفظونو راوړل یو شان یا یو ترتیب سره نۀ هم وي. یعنې کله خو دَ یو کلام هره مصرعه کښې ټول یو شان لفظونه مقرر شي او کله کله دَ یو کلام هرې مصرعې وزن دَ مختلف سپلابونو یا حرکتونو په بنیاد جوړ کړے شي. (دغه مصرعو کښې چې کوم وزن وي نو هغه دَ مختلف وزن او سپلابونو (دَ شمېر) په بنیاد وي)

لکه دا مثالونه

متقارب:- مفاعیلن + مفاعیلن + مفاعیلن + مفاعیلن

رجز:- مُستفعلن + مُستفعلن + مُستفعلن + مُستفعلن

کامل:- متفاعلن + متفاعلن + متفاعلن + متفاعلن

متدارک:- فاعلن + فاعلن + فاعلن + فاعلن

اوس دا وګورئ

مضارع- مفاعیلن + فاعلاتن + مفاعیلن + فاعلاتن

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



سریع:- مستفعلن+ مستفعلن+مفعولات

هزج مثمن:- مفاعیلن+فاعلن+مفاعیلن

لیکن دَ پښتو مزاج دا دے چې وړومبے سپېړ دَ کوم وزن راوړے شو نو ټوله مصرعه کښې به هم هغه سپېړ راځي. کۀ دا سپېړ مونږ "مفاعیلن" واخلو نو ټول پوره سپېړونه به مفاعیلن راځي. آخري نیمګړے سپېړ به مفاعیل یا مفا راځي.

دَ دغه سره به بل لفظ دَ پاره دَ وزن نۀ راوړو. پښتو شعر کښې صرف څلور وزنونه دي.

دَ عربي ژبې دَ دغه لفظونو پۀ بدل کښې پښتو کښې دَ درې، څلور او پینځۀ سپلا بونو سپېړونه دي. خو وزن دَ څلورم سپلاب نه وړاندې نۀ شي تللے. وړومبے سپېړ چې دَ څومره سپلا بونو وي او دَ کوم وزن وي نو وړاندې به مصرعه هم دغه شان وي. کۀ چرې مصرعه دَ طاق یا دَ لس او څوارلس سپلا بونو وي نو بیا دا ده چې آخري سپېړ به نیمګړے کېږي. دغه کم سپلاب د روند او سپک دواړه کېدے شي.

دَ پښتو وزنونه دَ نخښو پۀ مدد سره دا ډول دي.

وړومبے وزن: ////+

دوېم وزن: ////+

درېم وزن: ////+

څلورم وزن: ////+

دَ پښتو خپله طبعي دَ وزن لاړ (لکه دَ دولس سپلا بونو مصرعې)

وړومبے وزن: ////+ ////+ ////+ ////

دوېم وزن: ////+ ////+ ////+ ////

درېم وزن: ////+ ////+ ////+ ////

څلورم وزن: ////+ ////+ ////+ ////

دَ پښتو دَ طبعي نظام خلاف وزنونه او بحرونه لکه:

////+////+//// = ۱۲

////+////+//// = ۱۲

////+///+////+/// = ۱۴

دَ دغه خبرو او نخښو نه دَ عربي او پښتو ژبې دَ وزن او بحر بیلګوټ ښکاره شو.

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس دَ دربیزو په شعري مسئله څو خبرې کوم. پښتو کښې ټپه هم یو قدیمي منظوم شعري صنف دے. دَ ټپې دوه مصرعې وي، یوه مصرعه دَ ۹ سپلابونو او بله دَ ۱۳ سپلابونو وي. دَ ټپې وزن څلورم وي یعني هر څلور سپلابه سپټ کښې څلورم سپلاب دروند وي او تقطیع ئې څه داسې ده.

////+////+/ = ۹

////+////+////+/ = ۱۳

ټپه کښې آخر ته دَ "ن" "ه" (نه) حرفونو دَ اضافې او تکرار له سوبه یو دَ قافیې یا ردیف خپل نظام هم په نظر راځي. کله کله دا صرف "ه" سپوا کولے شي. دا ټول جوړښت منظوم دے. او په ټپو کښې ښه پوره پوره شعریت هم موجود دے، دغه وجه ده چې زمونږ دَ پښتو شاعري ټوله منظومه ده او دلته هر منظوم کلام ته شعر وئیلے شي ځکه دَ شعریت یو جدا معنا جوړیږي. دغه وجه ده چې نن کچه او پره خبرو سره آخر ته قافیه ردیف راوړے شي یا لږ ډېر وزن ته سمؤلے شي او دَ شعر نوم ورکؤلے شي. بازار کښې دَ "کانو" په نوم هم داسې بلها مواد خرڅیږي.
خو دلته دا ګیله عبث ده ځکه چې دلته خو لا تراوسه خلک په غزل او رباعي کښې خطا دي. دَ قطعې او رباعي خبره خو لا جدا ده. دَ قطعې او رباعي خبرې نه وړاندې دلته دا ؤوایم چې دربیزه باقاعده منظوم کلام دے او دَ اولسي یا جنګي دربیزو نه سپوا نورو دربیزو کښې پوره پوره شعریت موجود دے او دربیزه دَ پښتو خپل قدیمي نظم او شعر دے.
دغه صنف کښې دَ بیلا بیلو موضوعاتو یو لوی ځای موجود دے. ما خپل ځان دغه کتاب کښې دَ مختلف موضوعاتو دَ راوړلو او بیلا بیل رنګونو دَ پېوند کؤلو تر خپله وسه پوره پوره کوشش کړے دے.
په دغه کتاب کښې رباعیانې هم دي او دَ دغه باره کښې هم لږه خبره کوم. رباعي هم لکه دَ غزل راغلے شعري صنف دے یعني زمونږ خپل نۀ دے خو ځښې ملګري اوس دې ته څلوریزه وائي او ځښې خلک په څلوریزه، رباعي او قطعه کښې فرق نۀ شي کؤلے. رباعي دَ څلورو مصرعو په یو خاص انداز کښې ځانګړے شعري صنف دے چې هره مصرعه ئې دوه دوه ټوټې وي. دَ دې خپله مخصوص دَ بحر او وزن طریقه ده. وړاندې چې زمونږه مقدمینو هم کومې رباعیانې لیکلې دي نو هغه ئې هم دَ عربي دَ عروضو په قاعده یا طریقه لیکلې دي او دَ هغې تقطیع هم په هغه ډول ده. دَ پښتو دَ طبعې سره پوره سمون نۀ خوري، په دغو کښې یوه رباعي چې دَ لس سپلابونو ده، هغه دَ پښتو مزاج سره سمون خوري خو هغې کښې هم دریمه مصرعه لانجه جوړوي او دَ پښتو په

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



حساب پکښې یو سېلاب زیاتېږي. ما خپل ځان دغه کتاب کښې هم هغه دَ لس سېلابونو رباعیاني لیکلي دي خو تقطیع ئې پوره په پوره دَ پښتو په قاعده ده. او ما خپل ځان دغه له دَ پینځه سېلابونو سېټ تاکلے دے. وزن به هم هغه څلورم وي ځکه چې پښتو کښې سېټ که دَ درې سېلابونو شي، که دَ څلورو او که دَ پینځه سېلابونو شي خو دروند سېلاب دَ څلورم ځای (نمبر) نه وړاندې نهٔ شي تللے.
تقطیع ئې څهٔ داسې ده.

///// + ///// = ۱۰
سَېټ ۱ + سَېټ ۲

دغه ډول وزن بحر کښې غزلونه او چاربېتې هم ځو لیکلے شوې دي خو رواج ئې نهٔ دے موندے او زهٔ وایم چې دغه انداز صرف دَ رباعۍ دَ پاره مخصوص ښهٔ دے، دا دَ بل صنف دَ پاره خوند نهٔ کا. دَ موضوع او مضمون په حواله پهٔ دومره ؤوایم چې دغه زوړ جام کښې نوي شراب وړاندې کېدے شي او پهٔ داسې انداز هم چې چاته به او پره نهٔ لګي. قطعه پهٔ پښتو کښې ډېره لیکلے شوې ده او زما نورو کتابونو او خاص او ښکي مشالونه کښې ئې نمونې شته. اګر کهٔ ما دغه کتاب کښې قطعې هم ټولې دَ څلورو مصرعو لیکلي دي خو دَ قطعې دَ پاره دا خبره دَ یاد ساتلو ده چې قطعې لازم دَ څلورو مصرعو نهٔ وي. قطعه دَ غزل پهٔ انداز (وزن او بحر) لیکلے شي. څلور مصرعې هم وي او زیاتې هم کېدے شي. دغې ته ټوټه هم وئېلے شو.
خو چې نوم څلوریزه شو نو بیا دا خبره لږه جدا ده او هغه دا چې زمونږ څهٔ شاعرانو دغه څهٔ دربیزو پهٔ ډول لیکلي خو مصرعې څلور لري. (دغه ډول شعرونه محب الله مشواني ورور هم لیکلي دي)

ے تهٔ دَ خوبـــــونو ښاپېرۍ یې، ځکه
ما درته ټول عمر شوګیر کړے دے
اوس مې پهٔ دې خبره پوخ یقین دے
ستا به پهٔ خیال کښې هم راغلے نهٔ یم (محب مشوانے)

اوس دلته سوال دا راپیدا کېږي چې دَ دغه څلوریزو دَ رباعۍ او بیا خاص دَ قطعې سره څهٔ توپیر دے؟ نو رباعي به لازم دَ څلورو مصرعو وي، اوله، دویمه او څلورمه مصرعه به سره هم قافیه وي، هره مصرعه به دوه ټوټه کښې وي خو قطعه به لکه دَ غزل روانه وي، لازم دَ څلورو مصرعو به نهٔ وي دَ زیاتو هم کېدے شي، وړومبۍ مصرعه کښې قافیه دَ شاعر خپله خوښه ده. نوره به قافیه لري.

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو توپير خو ښېځي ښکاره شوے دے او هغه دا چې رباعي خو هم وَ دَ وزن و بحر په حواله جدا ده. دَ قطعې بيا ځانله تعريف ؤشو چې لازم څلور مصرعې نۀ لري او دَ قافيو حالت ئې هم بيان شو خو دلته دَ څلوريزو حالت دَ دغه دواړو نه ځان جدا کوي او هغه دا شے چې دا څلور واړه مصرعې دَ دريېزو په شان دَ قافيه او رديف نه ښېځي ازادې وي (خو دَ وزن او سېلابونو دَ شمېر په حواله پابندي لري) نو ځکه دغه ته هم رباعي يا قطعه وئېل مناسب نۀ دي او هم دغه څلوريزه نوم ئې سم دے او دغسې به مونږ څخه يو بل صنف هم په لاس را شي.

نور په دغه کتاب کښې څو غزلونه دي او څو نظمونه دي. په غزل خو خبره کولو ته حاجت نيشته خو دَ دغه نظمونو په حواله به دا ؤوايم چې دغه ډول نظمونه ما "افغان ګلونه" او "اوښکې مشالونه" کښې هم ورکړي دي او دلته دغه کتاب کښې هم خو چرې پرې خبره نۀ ده راغلې. اوس به دومره ؤوايم چې دغه ته دې غور ؤکړے شي، دې نظمونو کښې دَ داخل او خارج دواړه ډوله دَ اظهار يو ښۀ ځاى موجود دے، او دَ اوس په لنډ تنګ وخت کښې دَ کتنې قابل هم دي. دَ پښتو او پښتنو دَ پاره پکښې ډېر کار کېدے شي. دا څو خبرې ما ضروري ګڼلې نو ځکه مې ؤکړې، نور هر څۀ په لوستونکو پرېږدم.

په درناوي

شيرين يار يوسفزے

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورومبۍ برخه

# درېيزې

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درپېڼې

شیشَکه ، توره درنه شپه چې لاړه
راغے بد رنګه او بې نُوره سحر
وایه! چې ؤخاندُو، کهٔ ؤژاړُو اوس

دَ ځان او مال دَ حفاظت پهٔ خاطر
لاړم! تهٔ تانې ښخه مې کور واخِستهٔ
ایله "باران نه پرنالې لاندې شوم"

خلقو آسمان کښې سیارې ؤنیوې
پښتون پهٔ کلي کښې ډېران "لاندې" کړو
زمونږه قوم هم دومره پاتې نهٔ دے

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيڅې

هغهٔ وې : ځکــــه مې وادهٔ ؤنهٔ کړو
کلي کښــــې طبـــعې پــــورې ښځه نهٔ وه
"چـــې لاس ؤنهٔ رســـي مېــــوه تـــروه شـــي"

بـــــېلتــــون ته وايه څه! خپل کار دې کــوه
مونـــــړه يــو بل وَته بــه بيـــا ؤ ګرځـــو
"او بــهٔ پهٔ ډانګ بـــــانـــــدې بېلېـــــږي کله"

نـــــن هغه ښکلې او هـوښيـــــارې جينـــۍ
"خَبر" چــې فقـــــيــر ته ورکـــوهٔ وئيل ئې:
"ځان پهٔ نيســـتــۍ کښې دَ مســـتــۍ نه ژغوره"

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيځي

برېت او شمله مې په خاطر نۀ نيسي
حُسن په خپله يو طاقت دے منه!
"دَ زورآور او به په لوړه خېژي"

ماوې: لۀ تا مې مال و سر شه قربان
ليلا! زما په خوب او خيال کښې تۀ يې
وې ئې: سرې دَ شپې رېښتيا نۀ وائي

بُلبل کۀ نيَت دَ لوی الوت کړے دے
بورا هم بل وطن ته کډه تړي
ګلو تۀ وپې والا برقعې واغوستې

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيڅي

زما غانتـــــول ، زما رَېدي چـــې نِشته
پـــولو ، پتـــو ته دَ کتـــــو څهٔ پاتې
خدايه! دَ زهـــرو دا اتې ورانـې کړې

نن ئې دَ زلفـــو خـــرې خنګ جـــوړه وه
دَ مشاطې هُنـــــر تمـــام وو پـــرېنه
څکه پهٔ ويخه اوس خوبـــــونه وينـــم

زما دَ خيـــــال او دَ هُنـــــــر بُلنـــدي
دَ چا تکـــــونـــو بانـــدې هېڅ هم نهٔ شي
"آسمـان پهٔ کتـــو کهٔ څوک وولي، نو څهٔ ؟"

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېیزې

تیارې څۀ داسې رنګله ګورې شؤلې
چاته تر څنګ خپله سایه نۀ ښکارې
"غلو خو هم داسې شپه لۀ خدایه غوښته"

عقل شعور سره مو ډزې کړې
دَ وخت او بخت سره ده ورانه زمونږ
ده مو دَ ځان سره پخه دښمنې

دَ سیند او بو باندې ډاکه پرېوته
ما ورله خپلې رڼې او ښکې ورکړې
دَ وطن ښکلې دې تارې وهې اوس

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درپېڅي

پۀ ما دې اورد ميني پورې کړلو
لا اوس پوکي دَاسويلو ورکوي
دا تۀ نو هم خو څۀ دَ کاڼي نۀ ئې

دَ اصل ، نسل نه انکار ؤنۀ کړې
تش صفا رنګ باندې بازي مۀ تړه
"رڼې اوبۀ چاتې کښې نۀ شاربې څوک"

زيست مو ولقه کښې دَ روزګار کښېوتۀ
بې دَ پيسو نه څوک خبره نۀ کا
دَ حسرت مړي بې کفنه پراتۀ

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيځي

ما ته صحرا کښې نن یو ګُل دَ لاله
د ېر زړ ه غوني شان له سوخته ؤوي
"موسم هُم یار دے اوس دَ غوَ ر لستوني"

زړهٔ کهٔ دې هر څو مره هُم لوی دے ګُله
خیال او نظر دې هُم لنډ پارے نهٔ دے
خو! "یو څادر کښې دوه بربنډ نهٔ راځي"

نن چې زما وړو زما دَ وادهٔ
البم کاتهٔ او ځان ئې ؤنهٔ لیدهٔ
وې ئې: نو مونږ سره مو ورانه وه څهٔ ؟

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېیڅې

لهٔ ساړه څُویه دې نور څهٔ ؤوایم
لهٔ ډېره تاوه ئې لمبه لمبه کړم
راشه! لږ خواله کهٔ تو ډېرې چرې

ما ورته وې: پُوندې دې ؤچاؤدلې
مخ دې چاپېره تېر سرې ؤنیول
وې ئې: نېستي، هستي دې لرې سره

ما ورته وې: خدای دې افسر کا بچے
چرته دَ کلي کورپهٔ "بَنَه" بهٔ راشې
هغه پهٔ ښار کښې "ګهرداماد" شو دَ چا

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيځي

زما په خپلو رڼو اوښکو قسَم
زما په کسو کښې ئې عکس پاتې دے
رادې شي يار که ئې په خپله کښې

دَ ګاونډ اور ته چې لمنه وَهې
خو خپل کاله ته دې لمبې راولې
"دَ خپله ځانه خو ثوک نهٔ سېزي ځان"

اوس که په کلي کښې دې خوښ نهٔ وي ثوک
پرېږده ښبره ورله دُعا ؤغواړه
چې "ښهٔ" شي ورک به شي دَ ښار په طرف

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيځې

نن راته ښکلي ډکه لار کښې ؤوې
راځه ! چې ستړګې سره ؤجنګوو
"روشن خیالي" ده هېڅ پروا مهٔ کوه

څو مال او مُلک دَ ټول وطن "لاندې" کړې
رزق تمام دَ ګرد اولس ؤنغردې
دَ حرص نَس به دې لا نور اوږے شي

یا به زما دَ لُغت عِلم کم وي
یا خو لفظونه به مانې بدلوي
پهٔ "آزادۍ" او "ساتون" پوهه نهٔ شوم

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيزې

دَ اوښکو سيند کښې مې سېلاب راغلے
دَ زړګي ښارئې راله يوړو تمام
باچا کچکول باندې پَترې ؤوهل

نن هغه ښکلې، بې آسرې فقيره
خونَړي سپي چې بده ؤچيچله
ناظم وئيل: خبر دے دا "فرېښلي" ؤشُو

رېباره! ستا دَ متازې نَه شُو خلاص
ستا دَ تګې نه ډک روزګار ختم شو
مينه خولا ړه پهٔ هوا باندې شوه

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيزې

زما که او ښکې ملغلرې وې هُم
مغرور اشنا پرې لاړ، شو تېر دَ پاسه
خدای دې دَ چا په ښپو کښې توی نهٔ کا څوک

پهٔ مخ دَ زمکې دغه ټول مخلوقات
نهٔ کا تو ښيه انبار دَ رزق او مال
مګر سپوا لهٔ یو مېږي او انسان

دا دَ جنت دَ باغېچې ګُلونه
پهٔ کوم دِ ېران مې پېرزو کړې کله
پهٔ کاغذونو باندې اور پورې شه

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دريځې

دهقان چې سوال ؤکړي باران ؤغواړي
کلال به وائي: خدايه! شين ئې لرې
دلته انسان ته خپل اوقات معلوم شي

بازار دَ سود دومره تود شوے دے چې
دَ ضميرونو سوداګانې کيږي
اوس پۀ خپل سورې هم باور مۀ لره

دا هواګانې چې حالونه وائي
دَ آسمان ستورې هم عکسونه اخلي
ماشومه مينه به اوس ځنګ پټوُو

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درپیڼي

دَ مینې تار چې مې لا پوخ نهٔ وو سم
خپلو نازونو له دې تال واچوهٔ
نو اوس جوتې لړې پهٔ خیال ورکوه

هغهٔ وې : دومره خشمناک یمه چې
"هلهٔ پهٔ پوزه باندې مچ نهٔ پرېږدم"
ما وې: نو خدای خو دې مئېن کا پهٔ چا

ما وې: پولس ماما! دا ډزې دَ څهٔ؟
"جوړې، پهٔ کلي کښې جګړه وشوه"
وې ئې: نَه مړه! زمونږ غوا لنګه شوه

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيڅې

وي ئې: مُلا يم خو سخي هُم يمه
اولس، پولس په دستر خوان مې کوره
ما وې: نو دا څهٔ ستا دَ کوره راځي

زما ککۍ آخلې اوس عکس اپوته
يا که نظام دَ تول فطرت بدل شو
کاغې په پنجو کښې شهباز يوړو..!

دَ وخت په دورو هر څهٔ خړ نهٔ دي لا
تابانه مخ پښتنې جُونه شته دے
سپوږمۍ دې ځان وَته غاوره نهٔ شي

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيځي

پۀ جـار بـــه ؤوايم خپل راز دَ مينـــې
دَ حـــق پۀ تـــور بـانديې وژلے شۀ يم
پر ېـــږده چې رسـم دَ منصور ادا شـي

دَ شـب پَرستـــو نه کـــو څه خطا ده
تورابـــان ګرځي چـرته سـر پټــوي
دَ سبــا ستــورے پۀ اُفـــق ؤځلېږ

ما دې پۀ ســــتر ګو کښې يو چاته کتل
زۀ پۀ ټــول حـال دَ دې اسير خبر شــوم
اوس خو عکســـونه هُم حــالونه وائي

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيڅې

دَ آزادۍ، اَمن او مينې وطن
مقتل مقتل، زندان زندان شو راته
خدايه څۀ وشو او لا څۀ به کېږي

آزار مو واخِست دَ جمال او جلال
شال او شړۍ لکه خشاک سوزېږي
مونږه خپل کور ته پردے او رراؤړے

خدايه ! ما واخلې يا قيامت راولې
مانه خو دغه کانې نۀ شي ليدے
چې تور کارغان سپينې کونترې وورې

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درپېڅي

مُشـک مې پهٔ دراو پهٔ ديــوار ؤشـيندل
لاره ، کوڅه مې کــړه ترمکه پهٔ اوښکو
خو يــــار مې ســور شــو لاړ پهٔ اس دَ هوا

دَ سپينې څلې دَ سرو لبانـو پهٔ نـــوم
"ما پهٔ سپــوږمۍ بـاندې ګـلـــونه کرل"
خدايه ! دا خوب مې بې تعبـيره نهٔ کړې

دَ ځيکــــر وينه چې مې ؤســپــــزله
قــام له څــو اوښکــې مې ډالۍ راوړلې
خو ! ړاندهٔ خلک پهٔ ډيــوو څهٔ کــوي

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درېيزې

دَ اجل کومے مې سندره کړلو
زۀ خو پۀ مړو زړونو کښې ساه راولم
چې ما مړوي نو مرګ دې خپله ؤمري

ما چې دې زور ته دَ يادونو کتل
زړۀ ته مې خيال دَ هر تدبير عبث وو
غرق شي سېلاب ته چې بند ونه تړي

راغلې ما وژنې، نو څۀ! ؤمې وژنه
مرګيه! ؤلې لاس او پښې دې رپي؟
مونږه اوس هاغه پښتانۀ خو نۀ يُو

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درپیڼې

خپله قصاب او دَ مورې څۀ باور؟
خپله پۀ ځان دَ دې مرګې څۀ پته!
ځکه چړې دَ لاندې ساه اخلمه

اجَله! ژاړه تۀ، زۀ نۀ ژاړمه
تۀ چې مې وژنې؛ زۀلا ژوندے شم
مړ خو هغه شي چې ناموس ئې ورک شي

شړې مې څۀ لړه خیرٔنه شوله
چې دې بیا سترګې دا سې سپینې کړلې
دَ دُنیا رنګ مې ایله اوس ولیدۀ

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيزې

دَ خپل آزاد وطن بېـــرغ مې پهٔ لاس
ستورو ، سپـــوږمۍ نه هم پهٔ بـــره تلمه
دَ دغه خـــوب راله تعبيـــر ؤباسئ

چې خبـــر نهٔ يې پهٔ تېـــر شـــوي پرون
نـــو څنګه زده ئې پهٔ راتلـــونکي سبا
دَ نـــن پوهـُنې خـــو ناپـــوهه کړې لا

تهٔ چـــې بـــازونه پهٔ قفس بنـــدوې
لا تـــرې مَخُـــوکې او نوکـــونه آخلې
بيـــا دَ کارغانـــو "بدمْعاشيّ" مهٔ ژاړه

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيځي

ما وې: دا زلفې دې وې سپورې اکثر
څرې کښې هغسې ګلان نۀ تومبې
وې ئې: اوس کلې ته سپرلي نۀ راځي

لا رم آسمان ته دَ بخت ستورې پسې
ما وې: تختې نه لرۀ دَ تخت ځای ته شه
وې ئې؛ نو تا سو خوشۀ هم ؤخوځې

دا الوی آسمان پرې تنګېدلے خو، نه
دَ زړۀ دنيا به مې روښانه وے لا
دا سې سپوږمۍ کۀ يو، دوه، درې نورې وے

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېځې

ستـــرګې مې دواړه ډکې شـــولې
دَ زلفـــــــــو یاد پهٔ زړهٔ راؤوړېـــدهٔ
مابښـــــام دے ناست یمه دَ سیند پهٔ غـــاړه

آســـمــــان دے ډک له ښو ښو بـــرخـــو منم
خـــو لوی مـــرام لره بـــه لوی جـــوړېږې
"ؤري دې دَ بـــــــام دَ ګیــا خـــوب نهٔ وینـــې"

زهٔ دَ ســـپـــــــرلي پهٔ آب وتاب څهٔ کـــــؤم
زهٔ دَ ورشـــــــــــو آب و ګیـــــا ژاړمه
دَ شـــپونکي ځای خــــو خُواره نهٔ شـــي نیـــوے

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيزې

نن چې پۀ لار کښې مخامخ راغے يار
وې ئې: منم ؛ خو دَ زړۀ حال ؤوايه
سترګو مې وې ، خو پکښې اوښکې راغلې

ما چې زاهد پۀ مېخانه کښې ؤليد
پۀ خپلو سترګو مې يقين نۀ راتلو
ساقې وې: پوه نۀ شو دَ ورځې راغے

زلفې ئې تاو خورې دَ رخسارو پۀ سر
سترګې ئې سرې ، بانه ئې برند دي اولاړ
چې نن به څوک دَ قتل وار تېروي

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيزې

بُلبُل په ماته څانګه ناست ژړل ئې
"سرې خوّلې غوټۍ مې څۀ په هير لاړلې"
چې دَ ښار خلقو کفنونه ګران کړل

کۀ خپله ښځه دَ چا حُوره وي هُم
پردۍ ښدترې نه ابتره ښکارې
ښې ښې مېرمنې لاړې وينځې شولې

مُتهې زما پرتې دَ بل اُوږو ته
پۀ ما چلېږي ګزارونه کوي
دَ وخت پۀ دې جبر به څنګ نۀ ژاړم

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېیزې

څوک ئې لهٔ ځانه پـــرېکـــوي چرې نه
البـــــته خُـــور مُټه پهٔ غـــاړه کـړي لا
زهٔ چې رنځور شــــــــومنو تا پرېښـــــودمه

یو څوک خوشحـــاله وو چې لُور ئې ؤشـــوه
ما وې: څهٔ! ښه ده جهالت ختم شـــو
هغه وې: مـــړه! اوس بـــه روغه ؤشـــي

زمونـــړه سیند ته یوې شپــــې له راشــه
چې دَ چَــــړونو او چَـــرو پهٔ ژبه
واورې! چُپیا کښې دَ فطرت ســـنـدرې

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيزې

شمع محفل ته چې رڼا وربخښي
دَ دې په ځان باندې خپل څهٔ تېرېږي
دغه يو سوچ کله چا کړے نهٔ دے

ځو کهٔ ښاغلي اتلان غواړمه
مګر دا خونې هغه خونې نهٔ دي
"دَ کارغهٔ جالې نه خو باز نهٔ پاځي"

راځه ! دا خپلې دَ هُنر خبرې
مونږه دَ وخت لوی عدالت ته پرېږدو
تاريخ پهٔ خپله دے بې باکه مُنصِف

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيڅي

کوتوال چې پورته شـو او ښارئې لوټ کړو
دې ته قاضي "پېشګي سـاتـون" ؤوئېل
دَ ضـرورت دَ نظـريې صدي ده

جُمات له غُسـل ئې په وينـو ورکـړو
خپلـه ئې ځـانله په صُبـا ؤلامبـل
چاوې "سـيّد" دے دَ وخت لوی صوفي دے

خپلـوي ، دوسـتي خو دَ وجُود په قـدر
هسـې چَتـي ګيلـې ماني مهٔ کـوه
پهٔ ماندګی کښې خو خپل سـبورے تښتي

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېیزې

دَ ځـــوانۍ زور کچه تـــوبــه نۀ مني
واعظـــه ستـــا واړه کـــړان عبـث دے
او بـــو ته بند دَ شکـــو نۀ تـــړي ځوک

دَ مازیګـــر شفـق دَ سیند پۀ غـــاړه
او دَ چېتر "تر تر" کښـــې تال دَ بـــوډۍ
غـــواړي زما او ســتا دَ میني پېـــوند

وریځې غړوسکے غړوسکے راشي پۀ نمـــر
دَ رڼـــا وړانګې تـــرینه ثیـــره وَهي
زلفې پنـــه پنـــه پۀ مـــخ عبـث اړوي

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيزې

کۀ خلۀ دې چُپ او ليمۀ بند ؤساتې
خو دَ زړۀ راز به دې پټ پاتې نۀ شي
دَ ګلو حال وي دَ ورمو پۀ ژبه

زۀ ګوته بره ثُريّا ته نيؤم
دَ هغۀ سترګې ښکته خپو کښې ايله!
خاورې به وينې دَ لېلا خالونه

هسې عبث ده چې دَ غېر غمازنه
چرته دَ ښې خبرې طمع کوې
دَ مات منګي نه آواز روغ نۀ خېژي

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيڅې

آسمان کښې کورم دَ وريځ غړو سکي ته
زما دَ يار پکښې تصوير جوړ شوے
خدايه ! اوس باد له کومې رامۀ ولې

صبا چې راشي دَ قفس په لوري
زۀ ترې پښتنه دَ ګُلشن ؤکړمه
سترګې ئې ډکې شي؛ ګويانه نۀ شي

چې لور په لور ورله حالونه وايي
هغې صبا له بې تپوسه خښې
ماله په تَشه خلۀ قسم راکوي

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيزې

کۀ خلۀ دې چُپ او ليمۀ بند ؤساتې
خو دَ زړۀ راز به دې پټ پاتې نۀ شي
دَ ګلو حال وي دَ ورمو پۀ ژبه

زۀ ګوته بره ثُريّا ته نيؤم
دَ هغۀ سترګې ښکته خپو کښې ايله!
خاورې به وينې دَ لېلا خالونه

هسې عبث ده چې دَ غېر غمازنه
چرته دَ ښې خبرې طمع کوې
دَ مات منګي نه آوازروغ نۀ خېژي

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيزې

وادۀ ، اختر کښې دَ رشتې پۀ غرض
هغه پۀ ځان چې سپين پوډر ؤمخې
تۀ ورته ښې تورې چشمې واچوه

دَ موزيکې نه ځانته کيتھے غوَره
طمعې ، آسرې نه خپله هڅه ښه ده
دَ بل ځادر باندې څوک مُلا نۀ تړې

تکے دَ شکې ځل ډنډوکے کښې
اوږ ے بکيانو وَته بېرې وايې
پۀ سخت ساعت شي نظر کيرې بيرې

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيزې

کـــوځې ، چنــې مې بـــلا وُکتلــې
ځان مې يو چـــرته هم پېدا نۀ کـــړلو
دا تور دَ تا پۀ ســترګــو پورې نۀ شـــي ؟

دا چې لۀ ځانه ســتــورې اور واخِســتــو
پۀ شپه دَ بـــر آســمـــان نه وُلوېـدلو
دۀ ســتا جبـين بـاندې سُور ټيک ته کتل

هغه حُجـــرې او هغـه خُـونې دي خـو
دَ ســيالۍ ســترګــې پۀ چا نۀ خوږېږي
دَ ښو ځوانانــو مياندې بُورې شـــولې

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درپېڼۍ

دَ چا دَ سترګـو او بـارخـو پهٔ مینه
کله نـرګس، کله لاله ښکلـوُم
ذوق دَ جنـون مقام ته ؤرسېـدو

شپه ده، مېره ده، وائم ستـورو وَته
ما ته دَ یـار دَ حَـرم لار ؤښایئ
وائي ګرېوان کښې دې خپل سـر ننه کړه

مـخ دې چمن، لب او رُخسـار ګُلـونه
دَ خط او خال بُلبـلان ښایي سـره
خو دا دَ زلفـو کاغې "شـې" کړه تـرینه

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېیزې

دربانديٍ سپورے دَ اقبال کوٗمه
زهٔ یَم هُما ، اوږے شاهین خو نهٔ یَم
لکه کونتره چې اوتره شولې

ستا یو خبره مُعتبره نهٔ ده
خو زهٔ ګُمان خپل بدؤلے نهٔ شم
خبر دے راځه ! هغه زړې نوې کا

پهٔ اژدهام کښې دَ خود سره رامبل
پهٔ تېل ماتېل کښې دَ بې واکه وږمو
دَ خیال پهٔ تال وهم جُوتې دَ وصال

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيځې

دَ حد نه هُور ته ربړېدلي کۀ يُو
چې دَ پُښتو جنډه مو هسکه ربي
پۀ ننګ او پت به مو ښت پښت نازېږي

تنکي تنکي پۀ ښکلا سيال ګُلونه
ځي بل دِ يار ته آب و ګِل پۀ خاطر
څۀ مو سپرلے ، څۀ آبادي دَ وطن

زما کمے به دې محفل کښې وي تل
پۀ غير غماز به خوا پوره دې نۀ شي
دَ تاټ پيوند به خمل کښې چرته لګي

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيځي

پهٔ يــو ګُلشــــن بــه لمبــې پــورې نهٔ وي
ګُل او بُلبُــل بــه خـــوند لهٔ ژونـــده آخلـــي
کهٔ دَ بـــارودو کارخانې بنـــدې شـــوې

دَ خپل ارمـــان څلـــي ته اودرېــــــدمه
اوښکې ، سلګۍ مې ضبط کښې پاتې نهٔ شوې
خپل مسيـــحا چـــاته قـــاتِل دې نهٔ شـــي

دَ پـــاړوګانـــو هُم آبـــا يئمه خـو
ستـــا پهٔ کمخيـــّو مې قابـــو نهٔ راځـــي
پهٔ ښامارانـــو اُودې نهٔ چلېـــږې

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيزې

ذوق ئې دَ مرګ لۀ خوبه پورته کړُلو
ستا دَ پانزېب او بنګړو شور ته سلام
راګُونه پربړده چې پېسې ؤکتې

ما درته وې زلفې دې مۀ راسپړه
وړمې خو ډېرې چُغل خورې وي نو
کلي پۀ کلي ډنډوره جوړه ده

لب او رُخسار ته دې لالونه ايرې
دُرشهوار دې تر غابنونو خجَل
کُتو ته هسې تَش شوَلي اَچوه

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېځي

دَ برېتور پټکي شمله او جرګه
کندر حجره دَ سیالۍ څۀ جوګه کړي
چې دَ پُښتو خُونه میراته شوله

پُښتنې خوېندې ننګ او پت نه دي کې
لۀ سره تېرې وي دَ ورونو پۀ سر
خاورې شه! خاورې چې وي ګرانې پۀ چا

تبرے ، جفا ، خَشَم او مکر ، فرېب
پکښې به یو راسره ؤنۀ منې
یاره ! "خپل عېب دَ وولو مېنځ وي کنۀ"

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېځې

دَ اصل ، نقل مانـــې مهٔ لټـــوه
دَ حق ، ناحق پته هم ګـــرانه ده اوس
دا دَ "لېبل او اشتهـــار" صدی ده

کـلـــو ته ستا چې غلے غلے کلسم
ورک شوے ځان ګورمه غل خو نهٔ یم
دا دَ بانـــو سپاهیان دې پوهه کا لږ

دَ تبـــر مارو مُتــې شلې شه چـې
ښاخ ئې دَ بېـرې هډو پرې نښـودو
ما به دَ تـــال لوئې جـــوټې ته کتل

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درپیڼي

ستا دَ عزت او دَ ناموس پهٔ خاطر
ما چې دَ ځان نه بنجاري جوړه کړې
خو ؤلې سترګې اوس تهٔ نهٔ تورَوې

دَ خَلق پهٔ واړه وسائلو باندې
ځو اژدران خپله سینه اچوي
ترڅو به ژوند دَ مرګ لهٔ څۆلې شوکوُ

مونږه دَ پوهې طرفداریُو مګر
تګې برګې ته خو تعلیم نهٔ وایُو
داړې ته واچوي اَستر دَ قانون

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درپېڅې

دَ چا پهٔ وَس او تدبیر نهٔ یُو ایسار
نهٔ خو ناپوهه، نهٔ کمزوري یُو مونږ
خنډ دَ اصلاح یو تت اُمید ؤګنه

هر استعمار خپل دلالانو باندې
دَلې رنګ رنګ عنایتونه کړي
دا ځېنې برخې آسماني خو نهٔ دي

پهٔ بخششونو دَ اورنګ پاللي
پهٔ خطابونو دَ فېرنګ نباغلي
مونږ نه ناره دَ "زنده باد" غواړي..!

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيڅې

دَ خــوارۍ حـد مې تمام کړے بـاندې
هيڅ يو اينځر بـه مې کيکر نۀ شــي خو
کۀ لۀ آسمــــانه مې کمے رانــغے

دَ ديــدن "خبـر" دغـه دے ؤرمه ځمـه
دَ غمازانــو خوْلې دې وازې اوســي
ګـدا دَ ســپــو پۀ غَپا نۀ جار ووځــي

مدام چې حُســن دَ تخليق ســتـائيمه
دغه ده مدحــه دَ خالـــــق دَ قــدرت
ځم حقيقــت ته دَ مجـــــاز پۀ لاره

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيڅي

حق او انصاف دَ توازن تر ډکه
پسې فطرت او بیا دَ حُسن مقام
ورستو طاقت او آخر آمر مُطلق

یار ته زما پهٔ سترګو ګوره لږ
چې خپل ګُمان دې پهٔ یقین بدل شي
دَ حُسن ذوق ته به فجُور نهٔ وایې

درُشت خوبي خو ئې جوهر دے لکه
زما پهٔ ډېره ژړا اُف نهٔ کوي
دَ کاڼي زړهٔ پهٔ اوبو نهٔ پستېږي

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درپيڼې

سترګې مې ډکې وې ما توی نۀ کړلې
تله ، پارسنګ ، او پېمانه چې نِشته
دُر پۀ صدف کښې هم بند پاتې نۀ دي

ستا دَ بار خو نازکي دا رنګله ده
دَ خولَو څاڅکي پرې هم نۀ شم کتے
دَ زړګي آه ځکه قابو کښې ساتم

هغې زما دَ ديدن شوق وَته چې
نن دَ جمال دَ ذوق جنون وُېېل
پۀ محبت باندې به ويناړمه اوس

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيځې

پهٔ ګارې وارې ګرېوان نهٔ یمه خوښ
خو دَ ابکارو دَ خندا لېونے
آباد سحره! دُعا ماته کوه

زما پهٔ خون دومره آواره شؤله
لوړه، ژوَره ئې تر پامه هېڅ ده
مخه دَ زور یوه بلا نهٔ نیسي

ښه او نا ښه بدې کښې نهٔ وي ګوره
بیا هُم چې خوامخوا پُښتنه کوي
دَ تنګ نظرۍ نه تنګ دستي غوره ده

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيڅې

ملک دَ پښتو دے ، سر پۀ سترګو منم
خو دَ موقعې محل دا دومره لحاظ؟
چې پۀ يقين باندې ګمان غالب شي

دَ نظر ورانګو مې تيارې غوټې کړې
ستا دَ چار ګُل غمے هُم وُبر بښېدو
ستورے اوس زېرے دَ سبا راکوي

دَ خپل ښائېست دَ آب و تاب پۀ خاطر
کښئو زما ته سپېلني لوګے کړه
آئينې عِجز نه حېرت اخېستې

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېڅې

ژوند بـه پهٔ خوند او وقـار څهٔ کوي اوس
چـې پهٔ بـــازار لکه غلام ارزېـــږي
دا لوبـه جوړه کړه هم ژوو خپله

چې فلسفه کښې شي ناکام فلسفـي
نـو لېـونے شـي اوتې بـوتې وايي
پهٔ عامه پـوهه دې خوشحـاله کـړئه

پهٔ تصوف کښې چې خطا شـي صوفي
نـو دَ الحاد پهٔ کنډو وډو ســَـــر شي
ساده ايمـــان باندې شاکــــره اوسه

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوېمه برخه

# رباعياني

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رباعیانې

بد شي لهٔ بدو او ښهٔ دَ ښو نه
خوی دَ سړو شي مګر سړو نه
څوک چې دَ اصل نسل نه روغ وي
کار دَ پښتو هم بویه هغو نه

موسوم پهٔ ساده وي دَ لارې مَل کا
چې یاد پهٔ غل وي لهٔ ځانئې بیل کا
ډیوه دې بله دَ خپل شعور کا
دَ ژوند پهٔ لاره سِهل مزل کا

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رباعیانې

څنـــې دې ســـپـــورې رنګ دې تک تور دے
وضع دې ورانــــه ګــلــونه دې کـــور دے
څـــو بــې همت ئې نـــو بـــې قـــدرت ئې
ژونـــد له یو ســـا دې له ٔبــلــه پـــور دے

وطـــــن ته راشــــه جـــوړ مرغـــزار دے
پهٔ للمـــو ، دشـــتـــو هم اوس بـــهـــار دے
چـــې ورته ګـــورم زړهٔ مې پســـخــېـــږي
ګل خـــوا ته ګل دے یــار ســـــره یــار دے

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رباعیاني

زیـــــړ مازیګــــر کښېږ دَ ســـــینـد پهٔ غـــاړه
ساقــــي مُطـــرب وي راســــــــــره دواړه
بــــــــد پامي تـــوله وي ښـپـوَ د لاندې
لاس پهٔ نـــامه وي خـــوښـــي اولاړه

دا کــرونَـــده چــې دَ هـــریـــو ګُل کـړم
پــــرېنه سمســـور به دَ تــــا کـــاکُل کړم
ګُتــــــــه پهٔ خلهٔ بــه درتـــــه سـنبُل کړم
ستـــــا پهٔ ثنــا بــه هـــر يـــو بـلبُل کړم

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رباعیاني

دَ ژوند په سر مې غمونه پنډ دي
دا چې مې سترګو کښې اوښکې ډنډ دي
که وخت ایسار کړم که بخت بیدار کړم
نه مومم ښاده دې له بس شنډ دي

څومره چې وسوم زړه ئې لا یخ شي
زما په آه ئې ځکه اَخ اَخ شي
په ډک محفل کښې داسې راشا کا
غواړي چې ماته ناخوالي مخ شي

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رباعياني

څۀ پۀ سُرور يم څۀ پۀ سُرُود يم
نۀ پۀ خپل سُوداو نۀ پۀ بهبُود يم
خلک دَ نښت نه هم خپل ځان بُود کا
زۀ شتۀ وجود کښې نبست او نابُود يم

پۀ ژړا ژاړي پۀ وير مامُور دے
کۀ څوک مالک دے کۀ څوک مزدور دے
د جدل اور دے وطن تنور دے
ايره ئې واخله روغ کۀ رنځور دے

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رباعیانې

کۀ نۀ څۀ پلوري او نۀ څۀ پېرې
بیا هم لګیا یې ګوتې دې شمېرې
یو ذره غم وي پۀ ځان ئې غر کړې
واړه ښادۍ کړې دَ تا نه هېرې

پۀ توره شپه کښې دَآسمان ستوري
پۀ سپین جبین دې سور ټیک ته ګوري
نرۍ خُوَله دې پۀ بارخو ښوري
ځکه خو پرخه پۀ لاله ووري

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رباعيانې

ژوند نه خوند لاړ دے هسې دوران دے
خلک تول وړے تش سود او زيان دے
دود و دستور څۀ خپلوي ، دوستي څۀ
پت او الفت خو تش په ژبان دے

لږ رابهر شه لۀ خپله ځانه
چې څۀ خبر شې لۀ درست جهانه
قدم بوسي به دې بحر و بر کا
خو زړۀ دې لوی کا لۀ دغه تانه

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رباعیانې

غـــر دَ جرس دے وخت دَ پاځُون دے
دغه خُوَځَښت خو دلوی ژوندُون دے
مُرغ او مُـــلا هم کـــړے آذان دے
دَ مرګ پۀ خوب لا اودۀ پښتـــون دے

داچې بـــې نیـــازه لۀ زۀ او تۀ یْم
پۀ زۀ کښـــې تۀ ئې او تـــۀ کښـــې زۀ یْـم
داســـې زما چې ځېګـــر او زړۀ ئې
ځکـــه دا ســـتا پۀ لب و لبمـــۀ یْم

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رباعياني

بيا نوبهار چې پۀ باغ و راغ وي
ساقي، مُطرب وي چنګ و اياغ وي
قاضي کۀ ايښے پۀ کرښه سر خپل
شيخ به تسليم وي جوړ به فراغ وي

رڼا دې بېرته ښکاره اثر کا
چې تُورې شپې ته کږه پۀ سر کا
رنګ او نور داسې سره پېوند شه
دَ سيالۍ ډک چې دَ ژوند سحر کا

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رباعیاني

حُجره، جمات دے کنډر، کۀ کور دے
لمبه لوګے شو بل پرېنه اور دے
روڼي دَ ممات ئي خلکو ته روڼ کړو
مخ دَ حیات اوس دومره تک تور دے

چې سره ناست یُو زۀ او یار دواړه
دَ رنګ او نُور شپه دَ رود پۀ غاړه
لۀ هسکه ستوري پټ پټ راګوري
دَ غرِ پۀ سر هم سپوږمۍ اولاړه

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رباعیاني

دَ بد مرغیّــــــو هــــریــــو شبــــخُون ته
چې یــو لښکـر شـــي ګـران دي پُښتـــون ته
دَ ورور پهٔ لاس کښـې دَ ورور ګریــــوان دے
څنګــه به سم شـي دَ زیست سمـــــون ته

دا ګـــرزدَ تنــــدر نهٔ دَ آســــمـــان دے
خپلـــه سبـــزلے مونږ خپل آشـيان دے
ذره ګــرم نهٔ دے کاتب دَ بــــــرخې
دَ ځـــان دُښمن مو پهٔ خپله ځـــان دے

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رباعیانې

چې کله غوړ یې، دنیا رازغلې
خو چې لړ سپور شې ټول ګنه تللې
دغه دنیا ده، دغه ئې رنګ دے
چې پرې تکیه کا، هغو ژړلي

قدرت طاقت به نور څومره غواړې
په قرقره به تر کومه ویاړې
دومره دې زور وي دغه دې زغم وي
چې نوک دې خوږ شي نو ورته ژاړې

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رباعیانې

ګورې کرکنې، غوارې ممانې
خو څنډوې تهٔ، اوچې بکیانې
لا دا منم چې، پهٔ لاس به درشي
اربړې تُرشې، څو اوچې پانې

پردي مالونه، پهٔ خبته نغارې
لوی لوی ملکونه، پهٔ واک کښې غوارې
حرص څهٔ دومره، ړوند او بې حِس کړې
خپله پهٔ ځان اوس، خښوې دارې

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



درېمه برخه

# لنډي نظمونه

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظمونه

# دَ تندرونو په شپه

پۀ نوم چمن کښې پاڼه، څانګ نۀ لري
دغه تنکۍ، ښکلې معصومه غوټۍ
وې بې آسرې، خپل مور او پلار ئې نۀ وي
لکه وړه یو څوک یتیمه جینۍ

دا تکه توره بلا شپه چې راشي
ډکه درنه وریځ راوځلېږي
اسمان کښې واړه تندرونه هم چې
لۀ زوره وپړقېږي، وډزېږي

وایه! نو اوس دغه معصومه غوټۍ
کومې سائې، کومې تنې له ورشي
لکه ماشومه، بې آسرې یتیمه
پۀ دغه وخت دَ چا سینې له ورشي

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نظمونه

### جرات

راته ؤکړه یو نظر
سر تر پایه سراسر
لکه زهٔ یم لوغړن
بل به نهٔ وي یو بشر

نهٔ اختیار لرم دَ دم
نهٔ مې واک شته دَ قدم
دَ اظهار معصوم خواهِش
ستا پهٔ رحم او کَرم

دا بندي یم کهٔ ازاد
دغه داد دے کهٔ اهداد

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نظمونه

## احساس او ننګ

هغه شپه چې مې درد پام کړو
هر ستم دَ خپل جانان ته
دواړه سترګې شوې راڼه کې
بیا مې ؤکتل آسمان ته

بس ! یو آه مې لهٔ خلې ؤخوت
پهٔ اسمان کښې سره لمبه شوه
ښکته زمکه هم لهٔ ویرې
بوربنېدله زلزله شوه

خو ! دې وینې بیا پهٔ دَو کړم
پهٔ اجل ئې پېرزو نهٔ وو
زر زر لاړم ورله خوا له
خو جانان پهٔ خوب اوده وو

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نظمونه

## څو چې وينم

بل يو هيڅ پۀ نظر نشته
پۀ کوڅه او پۀ بازار
يو مرګے دے چې ئې وينم
سينه چاک کړئي اوار

يو زندان دے، بل مقتل دے
کۀ دا کلے دے کۀ ښار
هم حجره هم پۀ جمات کښې
جوړ يو درز دے دندوکار

نۀ اختر شته نۀ شوقدر
نۀ مېلې شته، نۀ څوک يار
در پۀ در خاورې پۀ سر به
څۀ ژوندون وي څۀ روزګار

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نظمونه

## اے نجيبه! اے شهيده!

دَ پښتـون دَ چمـن ګُلـه!
دَ دښمن دَ ســترګو خاره!
ســرداري درنه لوګے شــه
دَ وطن دَ ســر دســتاره!

نهٔ ډيوه شـــته چې کړم بـــله
نهٔ ګلان شـــته چې ګېډۍ کړم
دا څــو اوښکــي پښتنــي دي
دَ تا روح ته بـــــه ډالۍ کړم

ملامت درته ټول قــــام دے
دَ تا روح ته مې ســـلام دے
اے نجيبـــه! اے شــهيده!
دَ تا روح ته مې ســـلام دے

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نظمونه

## دَ روح کرب

څو کۀ ســـــترګې کړمه پټې
او زۀ نـۀ ګـورم يـو لـور تـه
يـا مـې غـوږ هـم ﻫڅو نـۀ ږدم
هر کوم غږ او هر يو شـــور ته

دغه لمس هم پســـې شَل کړم
او دا ژبـــــه هم اوده شـــي
کۀ مې جوش لۀ لا ســـــه ورکړم
بـــيا هم هوش پســـې چپه شـــي

خو! دَ روح ســـره بـــه څۀ کړم
هغـــه لار او چـــار رانښايـــه
کنه! دلته اوس بـــــې وس يې
دَ درد کريکه مې بـــيا ســـتايه

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نظمونه

## دَور

هغه سترګې چې ئې سرې دي
په جهان ئې ملازې دي
هر څو اخلي ازارونه
دعاګانې وريسې دي

مونږه خوار لۀ درداو مينې
هر ارمان مو وينې وينې
بې وسۍ مو اتبار وو‌ړے
دَ هرچا دي سترګې سپينې

دا دنيا ده، دائې کار دے
دغه وخت، دغه روزګار دے

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظمونه

پښتون زلمي ته

پهٔ شعور باندې بینا شه
دَ دستور ښخه آګا شه
ننګ او پت خپله ښېوه کا
او الفت هم سروپا شه
پهٔ مېړانه او غېرت کښې
تهٔ دې یاد لکه پخوا شه
آزادي کهٔ خپلواکي ده
تهٔ پهٔ دواړه سرفدا شه
ښهٔ هنر دے او کهٔ علم
پکښې لاړ ترانتها شه
کهٔ خرد دے، کهٔ جنون دے
پهٔ خپل ځای پکښې یکتا شه
ځان خبر لهٔ خپل پرون کا
او بیا زده دې لهٔ سبا شه
مفکر شه، مصور شه
هم عمل او هم سودا شه

هم الوت شه، هم رفعت شه
تهٔ هما او تهٔ سما شه

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شلورمه برخه

# غزلونه

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

لو یه و رشـــو دَ پښتنو کۀ بـــې بـــهاره نۀ وے
ښکلې هو سـﺊ بـــه دَ دامانې دو مره خواره نۀ وے

منګې ټیکرې، ګړونج ټوټې، جو نه تار تاره نۀ وے
زمونږ دَ کلي دَ ســـیند غاړه بـــه اوزګاره نۀ وے

لکه ما شـــوم بـــه کټورو پســـې لاس نۀ جګوم
خو سپل دَ زاڼو دې آسمان کښې بې قطاره نۀ وے

زما دَ زړۀ کالۀ ته ګوټ داســـې ممکن خو نۀ وو
کۀ ســـتا نظر ســـره زما دَ ســـتر ګو لاره نۀ وے

چا بـــــه زما نه دَ لالا ګلو نه څنګه ربـــــــل
داســـې کۀ زۀ پۀ خپله خاوره بـــې اختیاره نۀ وے

تا بـــه زما دَ کامرانیّو جنډې هســـکې لیدې
زما دَ ژوند کۀ دَ بـــــــلا پۀ کو څه لاره نۀ وے

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

پۀ تحـــويل دَ توره شـــپه خنګه خطا ځم
پۀ دســـــتور دَ دې وطن څو مره وېريا ځم

دَ فنا دَ پرواني تحـــــــــــــرير ته وايئ
پۀ دا لاره بـــــه وجود ته دَ بقـــــا ځم

دَ اجـل کومے هـم واز دَ ژونـد پـۀ لار وي
زۀ خود ســــــر دَ زمانې پرې خامخا ځم

مـا دَ ګلـو غنچـه ؤليـده کاکـل کښـې
اوس دَ خيـال پـۀ يـو جوتـه تـر ثريـا ځـم

څو پۀ ما دَ يار دَ ســـــــپوري وږم لګي
پســــې زۀ بـــــه دَ خپل وَس تر انتها ځم

اوس دَ کلـي نغارچـي وتـه نـارې کـړئ
نن دَ يار دَ زړۀ کالۀ وَته افشــــــــا ځم

مګر جنګ دَ هغه ســـــترګو سِهل نۀ دے
خو پۀ داړ ســـــره دَ ګردې پښتونخوا ځم

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ما ته ئې وعده نښه ده
نوې بهانه نښه ده
خدايه! مازيګر ته خَېر!
داسې تماشه نښه ده
هسې جرس غږ پسې
تللې قافله نښه ده
ستا همنوايي سره
دلته يو ټپه نښه ده
ياد شو لکه بل مشال
ډاډ اوس بدرګه نښه ده
اوس راځه! خوبونو کښې
خلکو نه پرده نښه ده
ياره! وضع، قطع دې
ښکلې پښتنه نښه ده

رِند دې مَېکدې ته ځي
مونږ له حجره نښه ده

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ځړاوې سترګې بلا ځړې کا
خُون آشنا مې لا ځړې کا

هر ارمان نه مې سَر پړې کا
ځه! اوس جوړې مُنارې کا

زما کسُو چې برعکس کړې
نورې ماتې آئینې کا

څۀلۀ به نۀ غوارم خو راشه
لرې بند دَ خلکو څۀلې کا

مُقدم پت او اُلفت دي
نورې ورو ستو تقاضې کا

شیرین یار دې څنې ستایې
بلاګانې وریسې کا

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

داسې چې په مونږه باندې سره راځي
ستا دَ اننګو زړهٔ له چې څهٔ راځي

ماته دې ياد ونه زور ګيري ښايي
کور ته مې دَ زړهٔ په د بوالهٔ راځي

خلک به په شپه غُټې سمبالې ږدي
مونږ باندې دَ ورځې رڼا غلهٔ راځي

تا به دَ نظر غبږه پرانېستې وي
اوښکې مې اوس چرته لهٔ ليمهٔ راځي

پام کورے! لهٔ سترګو مې ؤنهٔ لوېږې
توی اوښکه ليمهٔ وته بيا نهٔ راځي

سترګو دې په رَپ کښې قيصه ختمه کړه
اوس به عيادت له خلک ښهٔ راځي

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

پـهٔ خاطـر د اغيارانـو اخګـر پربـوت
چې پـهٔ مـا د يـار د مينـې نظـر پربـوت

کمتـري او عـاجزي مـې هومـره زور کـښې
د انـا او د غـرور هغـه غـر پربـوت

دَ نُور شمع چې جلوه شوه ، ډک محفل کښې
پهٔ پرده دَ خلوتيانو شـــــــررپربوت

نور بـه څهٔ ئې دَ قـامت عظمت بـيان کړم
پهٔ سـجده ورته سُنبـل او نښتر پربوت

نازک خيال چې مې بادشاه باندې اړ نهٔ وو
لاړ فقير غوندې تور خال ته پهٔ در پربوت

شـــوخ نظر راڅخه ؤنغړد ډکو ســـترګو
کهٔ ما نبام سيند کښې ککوړے دَ نمر پربوت

زهٔ لا کله ســــــتا لهٔ غمه فريادي ووم
خو دَ دهر هر الم مې پهٔ ســـــر پربوت

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

داسې چې په مونږه باندې سره راځي
ستا دَ اننګو زړه له چې څه راځي

ماته دې یاد ونه زور ګیري ښایي
کور ته مې دَ زړه په دېوال ئه راځي

خلک به په شپه غُټې سمبالې ږدي
مونږ باندې دَ ورځې رڼا غله راځي

تا به دَ نظر غبږه پرانېستې وي
اوښکې مې اوس چرته له لیمه راځي

پام کوره! له سترګو مې ؤنه لوېږې
توی اوښکه لیمه وته بیا نه راځي

سترګو دې په رَب کښې قیصه ختمه کړه
اوس به عیادت له خلک ښه راځي

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

تهٔ کهٔ رڼا پېژنې
بیا به سبا پېژنې

سترګو کښې غلا پېژنې
دومره حیا پېژنې

لاړ کهٔ غیرت لهٔ تا
بیا خو به ما پېژنې

زهٔ دې لکه سپورے شوم
تهٔ به مې لا پېژنې

ننګ او پت دې کله زده
جور و جفا پېژنې

دا دَ زړهٔ پرهر کسه
خپله ادا پېژنې؟

ټول دې لهٔ هر خوا بدخوا
لږ کهٔ همخوا پېژنې

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

سترګې دَ حالاتو راته ورانې دي
ذوقه! دَ سیالۍ خبرې ګرانې دي

غشو دَ ستم ته سینه تانې دي
شوقه! تلوسې دې پهلوانې دي

یا دَ بنجارې لهٔ خوارۍ مات دے زړهٔ
یا دَ ګلې جونه ځان آسانې دي

نهٔ هغه نسیم شته، نهٔ وږمې دَ ګل
هر لورې ته سپورې هواګانې دي

قدر به دَ اوښکو څهٔ درزباد کړمه
دلته کښې چې وینې هم ارزانې دي

کسو کښې مې عکس دَ حسن امر شو
ټولې آئینې ورته حېرانې دي

زور د تفکر ئې راته هېڅ کړلو
چاوې؟ دَ کاکل غوټې آسانې دي

ستا دَ نظر وړانګې ستا تر ځانه شه
اوس زمونږ دَ ذات زرې تابانې دي

بیرته مې دَ سترګو چینې تاندې کړې
تاوې! هوسۍ تږې دَ دامانې دي

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

تکے خال دې کۀ نایاب دے
ځاځکے او ښکۀ ئې حساب دے

پۀ غانتول او پۀ زړېدې مې
کړے سود ستا دَ نصاب دے

ځار دَ تا دَ مخ لۀ آبه
چې خولې خولې ګلاب دے

مخ او زلفو رانۀ هېر کړۀ
کۀ حساب او کۀ کتاب دے

ستا دَ زلفو دَ تسخیر مې
بې تعبیره لا هر خواب دے

زیر و بم ئې ننګ او مینه
ګنه سُر دَ ژوند رباب دے

شیرین یاره! لب ئې ستا یه
څو پۀ اور دې زړۀ کباب دے

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

پهٔ آب دَ مينې مې وينځلے دے زړهٔ
لهٔ هر يو خيرې مې ساتلے دے زړهٔ

هر څو مره ګران او کهٔ ښاغلے دے زړهٔ
پهٔ يوه خلهٔ مې ستا منلے دے زړهٔ

نن ئې دَ سترګو پهٔ رموز کښې ؤوې
ستا ؤلې دومره غلے غلے دے زړهٔ

خلهٔ يو ګيلې له جوړؤلے نهٔ شي
څنګه لهٔ خلکو دې اوښکلے دے زړهٔ

څو وو پهٔ څوکو دَ بانو چُور شوے
پهٔ تار دَ زلفو مې ګنډلے دے زړهٔ

تيارهٔ ئې خوب لهٔ دَ مړوند غوښتله
خو شيرين ياره! ما غندلے دے زړهٔ

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ایله چې خلې له مې راتله ماته شوه
څومره کچه کښې مې توبه ماته شوه

لا خو مې او ښکه یشـېدلې نهٔ ده
چې ستا پهٔ مخ باندې خوَله ماته شوه

څېرې ګرېوان مې ورته مخې ته کړو
دَ هغې لاس نه آئینه ماته شـوه

دا مړاوې سترګې او باریکه مُسکا
دَ ګل توله، دَ جام نشه ماته شوه

سپوږمۍ پوره دَ نیمې شپې پهٔ بلې
زما دَ خوب دَ کور پرده ماته شوه

دَ ګُمان قېد نه خلاصه شوې وعده
دَ یقین کور ته چې تله ماته شوه

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

يوه لمحــــــه دَ زندګۍ چې مهربــــــانه نهٔ ده
دَ بـــخت کاتب ســـره زمونږه خو څهٔ ورانه نهٔ ده

دَ ښار او کلي لوی وارهٔ ټول غم شـــريک دي زما
دَ درد قـيصه مې بــې بــنا، بــې خان و مانه نهٔ ده

تيارو خو ځکه ســاه ډوبــې وَته دوام بـــخښلے
هغه لېلا چرته يو شـــپه کاکل افشـــانه نهٔ ده

ستا پهٔ سودا کښې دومره ورک چې اوس پهٔ هېڅ هم نهٔ يم
شـــپه خو دَ غنو پهٔ چاپه کښې آســـانه نهٔ ده

چرې به ستا پهٔ بې لوظۍ تا ته راؤسپړي خلۀ
پښتنه اوښکه ده څهٔ دومره بـــې زبـــانه نهٔ ده

دغه ئې ډېره دليري، کهٔ بُـــــزدلي ؤګڼم
زما دَ قـــتل پهٔ خطا هډو پښېمانه نهٔ ده

زما دَ وارهٔ زندګۍ دَ صبح و شام پهٔ بدل
دَ مازيګر دَ يو ديدن ســـودا څهٔ ګرانه نهٔ ده

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

بلا سوخت کۀ دَ احوال لۀ تنارۀ خورم
دېر تاوونه هم دا ستا دَ بېلتانۀ خورم
هست او نيست دي راته هېڅ دَ ديدن شوق کښې
خداى ګواه دے کۀ پۀ څۀ باندې به زړۀ خورم
خو پۀ "را" مې ژبه نۀ اوړي قند لبه!
پۀ دوا کښې کۀ څو ژبه دَ کارغۀ خورم
تپ دَ نمر درباندې هم زغملے نۀ شم
خو بس دا چې غريبي ده، لږ سارړۀ خورم
چې دا ستا پۀ نخښه ووځي لۀ کمانه
هغه غشي پۀ تتر واړه هم زۀ خورم
دَ آسمان دا تندرونه؛ ورشي، پوه کړئ!
نورې زۀ دَ ارمانونو شومې نۀ خورم
ستا پۀ غم کښې هېڅ لۀ ستونې نۀ تېرېږي
کۀ پۀ قطع باندې شهد دېر خوارۀ خورم
دا چې کلک لکه سندان يم، سبب دا دے
لۀ فلکه ګزارونه بنۀ پاخۀ خورم
خداى ئې مالره کشته کا. بلا څۀ ده؟
ستا دَ لاسه خو زۀ زهر هم تراخۀ خورم

دَ وفا دليل مې دا دے چې پښتون يم
قسمونه دَ باور به درته څۀ خورم

www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ لیکوال نور کتابونه

★ چاپ کتابونه

(۱) **افغان ګلونه** چاپ ۲۰۰۴

(۲) **اوښکې مشالونه** چاپ ۲۰۰۶

★ ناچاپ کتابونه


(۱) **چاربېته** (تحقیقي مقاله)

(۲) **شیرین بیان** (دَ شعر په وزن، بحر، عروضو او پښتو املا بحث)

**نوټ:** افغان ګلونه کتاب (چاپ ۲۰۰۴) دَ ۹۰ لسېزه کښې تخلیق شوو غزلو او نظمونو باندې مشتمل دے.
اوښکې مشالونه (چاپ ۲۰۰۶) دَ پنجاب په جېلونو کېمپ جېل او کوټ لکهپت جېل کښې دَ ۲۰۰۱ نه تر ۲۰۰۶ پورې وختونو کښې تخلیق شوے ادب دے.
**دَ رنګونو پېوندونه** (هم دا کتاب)، **شیرین بیان** (ناچاپ) او **چاربېته** (ناچاپ) دَ هرې پور په زندان کښې دَ ۲۰۰۶ نه تر مارچ ۲۰۱۲ پورې وختونو کښې تخلیق شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ وخت په دُورو هر څه خړ نه دي لا
تابانه مخ پښتني جُونه شته دے
سپوږمۍ دې ځان وَته غاوره نه شي



دَ چا دَ سترګو او بارخو په مینه
کله نرګس، کله لاله ښکلؤم
ذوق دَ جنون مقام ته ورسېدو

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**